# د عــــشق خـــوند

لومړی شعري ټولګه

شاعر:

محمد ظریف (ظریف)

Ketabton.com

د چاپ ټول حقوق له شاعر سره خوندي دي

ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د عشق خوند |
| شاعر | محمد ظریف (ظریف) |
| کمپوز | احمد ولي (احمدي) |
| ډيزاين | نصير احمد (نصرت) |
| د پښتۍ طرحه او ډيزاين | ګل احمد (فرهاد) |
| چاپ کال | ۱۴۰۱ هـ ل |
| چاپ چاري | درویش چاپخانه هلمند |
| تیراژ | ۳۵۰ ټوکه |
| چاپ وار | لومړی |

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمٰن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

**ډالۍ**

**عاليقدر**

**محتـــــــرم :**

**درنو لوستونکو ددې کتاب له چاپ څخه مي موخه داده چي له مرګ وروسته مي هم په دُعاګانو کي هېر نه کړئ.**

ketabton.com - The Digital Library

## زما دشاعرۍ سبب

دا یــــــولــــــک اوڅــــوهــــزاردي ثنـــــا وايـــــي
د دوی مشـــــــراوســـــــرداردي ثنــــــا وايــــــي

لويــــــــه خدايــــــه حُســــــنداره ملائيکــــــــي
څــــوک پــــه جهــــر څــــوک کـــــراردي ثنـــــا وايــــي

زما د شاعرۍ سبب دا وو، چي د رسول الله ﷺ سره مي په ماشومتوب کي لا ډيره مينه وه، چي عمر مي ۱۹ کاله سو يوه شپه د ماخوستن د لمانځه وروسته د عليه السلام نوم مبارک د کوټې پر دېوال پر کاغذ ليکلی وو، ما دغه مبارک نوم ښکل کړ، په دغه شپه مي عليه السلام دوه واره په خوب کي وليدی، له را ويښېدلو سره سم مي اوښکي رواني سوې، د عشق اور مي په زړه کي بل سو، يو څو بيتونه شعر مي پر ژبه روان سو، حال مي پنځ ساتی درې مياشتي په ژړا را باندي تيري سوې، کور مي پرېښودی، بل ځای ولاړم، مکمل بې حاله سوم، يوه هفته وروسته مي اراده وکړه چي کور ته ولاړ سم، د خپل کور پر خوا را روان سوم، يوه سړي په لاره کي راته وويل چي ستاسو د کلي په درې کيلومترۍ کي د روسانو عسکر او ټانګونه ولاړ دي، زه ډېر خوشحاله سوم، له ځانه سره مي وويل چي اول به د مور او پلار ملاقات ته ورځم، بيا به د روسانو پر ټانکونو ورځم، خپل ځان راته ډېر غښتلی ښکارېدی، ما دا سوچ او فکر کاوه چي زه الله اکبر ووايم چي کافر وي هغه سړی به مري او چي مسلمان وي پاته کيږي به، چي له کوره په روسانو پسې ور وتلم، ورونو را ټينګ کړم، ټينګ يې وتړلم، بيا مي نو د جهاد فکر له سره ووتی، عشق

ketabton.com - The Digital Library

رابانديِ دومره غالبه سو چي هر چا به لمونځ کاوه ما به له ځان سره ويله چي دا لېونی خو په جنت کي هم لمونځ کوي، زما دا يقين وو چي حساب کتاب د قيامت خلاص دی، ټول په جنت کي يو، په جنت کي خو لمونځ نسته، هغه وخت تاريخ ۱۳۵۹ / ۱۹۸۰ ميلادي وو.

شپږ مياشتي يې پښې او لاسونه په ځنځير را تړلي وه، په دغه وخت کي يو ډېر ښايسته نور راښکاره کېدی، دا نور په اندازه د يوې لوېشتې وو، چي کله به راښکاره سو ما به بله خوا ته نه سوه کتلای، د يو ښه انسان پر مخ لکه د لاس برق چي د چا پر مخ برابر کړې و د ې انسان ته به ئې داسي ښکلا ورکړه چي ما به بلې خوا ته نه سوه کتلای، شپږ مياشتي وروسته څه نا څه ښه سوم، د لاس او پښو څخه يې ځنځيرونه را خلاص کړه، څو ورځي وروسته مي عليه السلام په خوب کي وليدی، لکه تياره ماښام داسي وخت وو، په نيم متر فاصله له ديوال سره ناست وو، له مخ مبارک څخه يې داسي تجلې پورته کيدلې چي د دوو لويشتو په اندازه ديوال په روښانه وو، راته ويې ويل: (يو ته رابانديِ ګران يې يو بل حاجي دی هغه رابانديِ ګران دی) په يوه شعر کي مي ويلي دي:

ما ظريف کي څه کمال دی نه پوهېږم
يارمي وايي ياره ته رابانديِ ګرانه

له هغه وخته بيا تر نن ورځي الحمدلله، رسول (عليه السلام ) مي دومره ډېر په خوب ليدلی چي شمار يې زما له ياده وتلی، دا خبره لازمه بولم چي هر شاعر خپل په نعت او شعر کي دا ليکي چي قربان دي سمه، درپسي کباب يمه، کله به درځمه او که هر شاعر خپل په شعر کي د رسول (عليه السلام ) کومه نښه وويله رښتيا يي په خوب ليدلی دی،شاعران

ketabton.com - The Digital Library

په دې خبره ښه پوهیږي، یوه شپه یې خپل مُهر نبوت را وښودی، سپین کالي یې اغوستي وه، لمن مبارکه یې پورته کړه، د دواړو اوږو په منځ کې یې مُهر نبوت وو، رنګ د مُهر یې داسې وو لکه اینه، بدن مبارک یې ژړ سپین وو، دغه رنګ ژړ سپین توري په مُهر نبوت کې دننه ښکاریدل،

په یو شعر کې مې ویلي دي:

لــــــه خوښـــــــې یمــــــه الــــــوتی لکـــــــه بــــــاز
منتـــــــدوی یمـــــــه آشـــــنا پـــــــه لـــــوی انـــــداز

یـــــــاره مُهـــــــري نبـــــــوت دي هـــــــم راوښـــــــود
رنګـــــــا رنـــــــګ دي نـــــــازولی یـــــــم پـــــــه نـــــــاز

یوه بله شپه مې له څلورو یارانو او امام حسن او امام حسین (رضي الله عنهم) سره ولیدی یو شعر کې مې ویلي دي:

یــــــا شـــــکر دي وي خدایـــــه چـــــې دلبـــــر مـــــې ولیـــــدی
ســـــــردار د ښـــــکلو ښـــــکلو لـــــوی افســـــر مـــــې ولیـــــدی

دا ګـــــل یـــــوازي نـــــه وو نـــــور ګـــــلان هـــــم ورســـــره وه
صـــــدیق عمـــــر عثمـــــان علـــــي حیـــــدر مـــــی ولیـــــدی

یوه بله شپه مې پر سر، یوه لاس او یوه پښې باندې ښکل کړ، په یو شعر کې مې ویلي دي:

ketabton.com - The Digital Library

لــــــه مکــــــــي در رســــــــېدلي دي کــــــه نــــــه دي
و روضـــــــې تـــــه درېــــــدلي دي کـــــه نـــــه دي

ســــتا پـــر ســـر لاســــو او پښــــو بانـــدي جانانــــه
ظريــــــف شــــــونډي لگــــــولي دي کــــــه نــــــه دي

يوه بله شپه يې په خوب کي دعاء راته وکړه، اوږده او سپين ژړ لاسونه يې وه، توره ګڼه ږيره يې وه، په يوه نعت کي مي ويلي دي:

ګرانــــه منــــوره ښــــه راغلــــــي تــــــه
مــــه ځــــه ننــــه شــــپه پر کومــــه ځــــي تــــه

تـــــا ژړ لاســــــونه پورتــــــه کــــــړي
خـــــاص دي وپـــــاک رب تـــــه نيــــــولي

تــــر خــــولې دي جار ســـم پـــه دعـــا مــــي يـــادوې تــــه

يوه بله شپه يوه زنانه له خپله کوره راوتلې وه، مکمله په پرده کي پټه وه، د خوب حال دی لکه په خپل کور کي چي يې ګذاره نه کيږي، يو صحابي د قبلې و خوا ته ولاړ وو، و دغي زنانې ته يې وويله چي پرون مي ستا پر برابر د رسول (عليه السلام) څخه ښه خبره واورېدله، دغه زنانه ډېره خوشحاله سوه، ويې ويل: زه به يې ډير ښه خدمت کومه، لکه د (عليه السلام) په نکاح کي چي کښېوزي، دا زنانه روانه سوه، د (عليه السلام) د کور پر خوا، زه هم د (عليه السلام) په دغه فکر کي روان سوم، د (عليه السلام)

ketabton.com - The Digital Library

کورته دننه ورغلم، (علیه السلام) د زېرخانې څخه را ووتی، غېږ مبارکه یې خلاصه کړې وه، زما پر خوا ژر ژر را روان سو، ما غېږ پر را تاو کړه، پر دواړو شونډو مې ښکل کړ، په یو شعر کې مې ویلـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــي دي:

ketabton.com - The Digital Library

اوښــکي ری بــاراني مــي پــه یــار پســي لېږلــي دي
خــدای دي خیــر ورکــړي پــه ښــه کــار پســی وتلــي دي
پــه هرجــام کــي یــي مــزه ده خــو د خــولي جــام یــې جــلا دی
شــونډي مــي پــر شــونډو او پــر پښــو ورلګــولي دي

څلورېښت کاله د علیه السلام په روضې پسي کړېدلم، الحمد لله د دي کتاب د لیکلو څخه مخکي الله (جل جلاله) خپل په لوی فضل او کرم د عمرې توفیق راکړ، زامنو و عمرې ته ولېږلم په طواف کي به مي دا شعر وایه:

دامـــــــي اوښــــــکه امانتـــــــه یـــــــې ســـــــاته
آن تــــــــر ورځـــــــي د قیامتــــــه یـــــــي ســـــــاته

چي کله یې راته وویله: سبا مو مدیني منوري ته لېږو بیا مي دا شعر جوړ کړ:

لڅـــــي پښـــــې بـــــه یـــــم لـــــڅ ســـــر بـــــه روانېـــــږم
مـــــدیني تـــــه پـــــه ســـــفر بـــــه روانېـــــږم
چي سبا سو له مکي څخه را روانېدلو، سر مي لڅ کړ پښې مي هم لڅي کړې، په وروستۍ ورځ چي د مدینې له جانانه مي رُخصت اخیستی لس واره مي رخصت ځني واخیستی، ژړا داسي پر سر اخیستی وم چي عسکر لا راتـه حیـران وه، پــــه یــــو شــــعر کــــي مــــي ویلــــي دي:

ketabton.com - The Digital Library

ښـــــه مکـــــه او مدینـــــه ســـــوه پاتـــــه پاتـــــه
څـــــه خوندونـــــه او مـــــزه ســـــوه پاتـــــه پاتـــــه

مـــــا چـــــي کـــــوم ژړا فریـــــاد کـــــاوه عســـــکره
حیـــــران ډېـــــر بـــــې انـــــدازه ســـــوه پاتـــــه پاتـــــه

له هر مسلمان ورور څخه مي دا هیله ده چي په ژوند کي د هدایت دعاء راته وکړي! که خدای (جل جلاله) قبوله کړه،هر څومره ګټه چي دعاء غوښتونکي ته ورسېدله دعاء کوونکي ته یې هم خدای (جل جلاله) رسوي، هم دا رقم ښېرا ده.

د دي کتاب په لیکلو کي زما دیني ورور احمدولي (احمدي) ډېره خواري وکړله، څلور واره یې په خپل لګښت یو یو ټوک کتاب را چاپ کړ، چي کوم توری به زیات یا کم وو هغه به یې اصلاح کړ، ډیره مننه او کور ودانی ورته وایم او د ده ډېر شکر ګزار یم، د (علیه السلام) حدیث دی: چا چي د بنده شکر آدا نه کړ هغه کس د خدای جل جلاله شکر آدا نه کړ، د الله (جل جلاله )څخه یې د دنیا او آخرت کامیابي غواړم! آمین

ketabton.com - The Digital Library



## حمد

دا یو لک او څو هزار دي ثنا وایي
د دوی مشر او سردار دي ثنا وایي

لوی په خدای په حُسنداره ملائکي
څوک په جهر څوک کرار دي ثنا وایي

تسبیحات ښکلي اوراد یې وي پر ژبه
مؤمنان او څه کفار دي ثنا وایي

حیوانات چې پر ځلورو ځي له عُجزه
حلال غوښې او مُردار دي ثنا وایي

د یوې خولې کې شفاء د بل مرضه
عَسلي موچۍ او مار دي ثنا وایي

نور مخلوق سته په تسبیح یې نه پوهیږو
ونې، بوټي او اثمار دي ثنا وایي

(ظریف) وینې له اذکارو غافل ګرځي
مرغان ګوره هرسهار دي ثنا وایي

ketabton.com - The Digital Library



## نعت شریف

ذوالجلال هم د رحمت درود پروایي
جبرائیل په قرائت درود پروایي

هر نبي او پیغمبر یې مقتدي دی
دغه تل د امامت درود پروایي

د ښکلا تعریف یې لیک په آیاتو کې
څو آیاته خپل زینت درود پروایي

په راتګ یې درې کتابه سوه منسوخه
یو آیات د ضمانت درود پروایي

اُمتې یې پر عاشق دی له ازله
نن له شوق او محبت درود پروایي

حافِظانو حفظ کړی په سینو کې
لَه قرآنه په حُجت درود پروایي

(ظریف) هم په دا پنځه وخته لمونځو کې
ثوابونو په یو نیت درود پروایي

ketabton.com - The Digital Library



# نصیحت

که نیکی او ثوابونه غواړې وروره
مخته ګوره د بابا او خوږې موره

تر پښو لاندي يې جنت دی مسلمانه
دا خبره زموږ د خوږ نبي غمخوره

د رحمت دواړه وزره پر خواره کړه
هم دي ږغ د دوی تر ږغ نه سي په زوره

مغفرت يې له غفاره خدایه غواړه
د بخښني يو دعا يې پر تا پوره

ستا روزنه يې پر هغه وخت کوله
چې خوراک او صفايي ته وې کمزوره

يو بې مثله بې مثاله ميلمانه دي
که له چا سره حاضر وي نن پر کوره

زما ظريف ادې ژوندۍ پلار مې وفات سو
اوس غمو يم را ګير کړی له هر لوره

ketabton.com - The Digital Library



# مناجات

دا مې اوښکه امانته یې ساته
آن د ورځې تر قیامته یې ساته

که په موږ کې هر یوه ته سوې په قهر
ددې اوښکې په حُرمته یې ساته

قریبان او هر یو دوست که مې شناخته وي
له ستړیا او له غُربته یې ساته

عالمان یې اولادونو کې پیدا کړې
بې دینۍ او جهالته یې ساته

خدایه ستا او د نبي یې تابع دار کړې
د ابلیس له سلطنته یې ساته

که دُښمن ورباندې هر څومره قوي وي
د دوی مخته بې قوته یې ساته

(ظریف) دوه لاسه نیولي په زاریو
له غمو او مُصیبته یې ساته

ketabton.com - The Digital Library



## اول سلام بیا کلام

ښه دعا اولوی عزت دی یو سلام
د اول اول خبري دی امام

دا هدیه ده رالیږلې ذو الجلاله
رب خبرې په یو قدر او مقام

په سُنتو کې سُنت جواب یې فرض دی
په پنځمه سیپاره کې دا کلام

ښه نېکۍ د ثوابو په حاصلیږي
دا حدیث دی د نبي خیرُ الانام

انتظار مه سه چې بل یې را ادا کړي
هوښیاري ده ګوره اخله اول ګام

کشر مشر روان ناست لږ یې و ډیرو
ور تُحفه دي کړي په زر زر احترام

زما (ظریف) خوښه ډېر خوښ دی شُکر شُکر
شروع کومه د شعرونو په سلام

ketabton.com - The Digital Library



## ژړېدلي دي کېنه دي

لـــــه مکـــــې د ر رســــېدلي دي کــــه نــــه دي
و روضــــې تــــه د رېــــدلي دي کــــه نــــه دي

د حاجیــــانو پــــه لاســــونو خــــوږ ســــلام مــــي
مخـــــامخ د ر تــــه ژړلــــي دي کــــه نــــه دي

لــــه دېر غمــــه دي زړ واره مــــي لــــه ســـتر ګو
رونــــي اوښــــکي رژېــــدلي دي کــــه نــــه دي

د یــــارانو پــــه حُرمــــت دي نظــــر وکــــړه
ځلــــور واړه مــــي لیــــدلي دي کــــه نــــه دي

یــــو موســــکا دي لېــــونی کړمــــه حســــینه
نیمــــه شــــپه دي را خنــــدلي دي کــــه نــــه دي

ښــــه د عشــــق پــــه رنــــګ یــــې وتلــــه دلبــــره
دا شــــعرونه مــــي څــــه ښــــکلي دي کــــه نــــه دي

ســــتا پــــر ســــر لاســــو او پښــــو بانــــدي جانانــــه
ظریــــف شــــوندې لګــــولي دي کــــه نــــه دي

ketabton.com - The Digital Library


## اخ وصاله

دوا راکړه انتظار یمه دلبره
د خدای روی دی اوس بیمار یمه دلبره

دا څو میاشتي ستا وصال رابانديبند دی
په کوم جُرم گرفتار یمه دلبره

گرمي اوښکي به جرگه درولېږمه
نن اخته په دي یو کار یمه دلبره

آخر خاوري او ایرې به پرسر باد کړم
ډېر بې صبره نا قرار یمه دلبره

بل یو زېب او زینت نه غواړم له خدایه
ستا د عشق په هار سینگار یمه دلبره

چي راغلی وې پخوا پر کومه لاره
هغه لاري ته په څار یمه دلبره

در پیاد یې کړه تا څه راته ویلي
زه (ظریف) دي هغه یار یمه دلبره

ketabton.com - The Digital Library



## ستا قربان سي

تــــول عــــرب او دا عجـــم دي ســـتا قربـــان ســـي
د كـــوثر هـــر جـــام او جـــم دي ســـتا قربـــان ســـي

چـــي پـــر لـــوح محفـــوظ څـــه پـــه ليكـــل ســـوي
هغـــه ښـــه رنـــګ او قلـــم دي ســـتا قربـــان ســـي

د كعبـــــــي چـــــــت او څلـــــــور واړه ديوالـــــــه
فـــرش دننـــه او حـــرم دي ســـتا قربـــان ســـي

چـــي حُجـــاج يـــي ښـــكلوي پـــه دواړو شـــونډو
دا ډبـــــره او زم زم دي ســـــتا قربـــــان ســـــي

د جملـــــه وُ انســـــانانو مـــــور او پـــــلاره
د حـــوا مـــخ او آدم دي ســـتا قربـــان ســـي

لـــــه هابيلـــــه يـــــي را شـــــروع دا شـــــهيدانه
د دوى زخـــم او مـــرهم دي ســـتا قربـــان ســـي

خــداى دي نــه كــړي چــي بــه تــا كــړم پكښــي هېــره
زمــا (ظريــف) ښــادي او غــم دي ســتا قربــان ســي

ketabton.com - The Digital Library



## نازولی یم

له خوښی یمه الوتی لکه باز
منندوی یمه آشنا په لوی انداز

یاره مُهري نبوت دي هم راوښود
رنګا رنګ دي نازولی یم په ناز

زه نو څه هُنر لرمه آی دلبره
چې عُشاقو کې دي راکړ امتیاز

دا حال زړه کې تېنګومه نه تېنګیږي
له اختیاره مې راووت عجیب راز

رب مې دروله دلبره ستا تر کلي
ښکلوم یې ایره خاوره د حجاز

که یوورځ دي و روضې ته غیږ په غیږ سوم
ته به واورې زما د سوي زړه اواز

ښه پوهیږې چې ظریف راپسې ړوند دی
معلومیږي دي وسترګو ته ممتاز

ketabton.com - The Digital Library



## مرحبا

خدای دي راولـه دلبره راسه راسه
د بختونو بختوره راسه راسه

حسين مخ دي په کوم نور در منور دی
د انوارو سمندره راسه راسه

په ليدو دي اوس له حاله يم بې حاله
څومره ډک يې له اثره راسه راسه

دا وصال دي څه غمونه راځه ورک کړه
خوشحالي او زر اختره راسه راسه

د حُجاجو سترګي يخي په زمزم دي
زما لپاره خو کوثره راسه راسه

را خندل له ميني ميني دي قربان سم
د عُشاقو لوی افسره راسه راسه

ما (ظريف) چيري هېر نه کړي د رب روی دی
خوار او زاريم دربدره راسه راسه

ketabton.com - The Digital Library



## ورپسي ګرځي

رحمتونـــــه د رحمـــــان ورپســــــي ګرځـــــي
ملائیکـــــي د اســــــمان ورپســــــي ګرځـــــي

عـــالي قـــدر رب ورکـــړی هـــر مخلـــوق کـــي
قدرمنـــــد او قـــــدردان ورپســــــي ګرځـــــي

د ده وصـــــل او وصـــــال تـــــه هوسیـــــږي
انبیـــــاء او مُـــــرسلان ورپـــــسي ګرځـــــي

ښــــه طالـــب او لـــوی مـــلا کـــه مـــولوي وي
دغــــه ټولـــه عـــالمان ورپـــسي ګرځـــي

ســـر او مـــال چـــي یـــې د خـــدای پـــه لار قربـــان کـــړه
رب بخښـــــلي شـــــهیدان ورپســــــي ګرځـــــي

د عـــــشق اوریـــــې شـــــاعري لـــــه بـــــرابر کـــــړه
بـــــې شـــــماره ادیبـــــان ورپـــــسي ګرځـــــي

کـــه یـــې بیـــا خولـــه پـــه خولـــه راســـي ښـــکلوم یـــې
زمـــا ظریـــف خولـــه او لبـــان ورپســـي ګرځـــي

ketabton.com - The Digital Library



## د میني شور

خدایـــه شُــکر د یـــار مینــــه راســــره ده
د زړه مــــنځ کـــي ګرمـــه وینـــه راســره ده

چــي پــه شــور راســي خــوش بویــه ســي سرکښــه
مســــته مســــته عنبرینــــه راســــره ده

تــــر دا ټــــول جهــــان درنــــه ده پــــه وزنونــــو
وزن داره ښــــــه وزمیـــــنه راســـــره ده

پــــه نــــازونو مــــي ســــاتلې ده پــــه زړه کــــي
نــــازولې نازنینــــه راســــره ده

لکـــه اوســـــپنه کــــي زر چـــي قیمتـــي دي
داســــي ګرانـــه زر زرینـــه راســـره ده

کــــه هــــر چــــا یــــې خونــــد څکلــــی وي پــــوهیږي
تــــر عســــلو قنــــد شــــیرینه راســــره ده

زه ظریــــف چــــي نــــوی ځــــوان وم هغــــه وخــــت مــــي
ږیـــره تـــوره وه اوس ســـپینه راســـره ده

ketabton.com - The Digital Library


## لوی ارمان

نه د یار د کوڅې سپی او نه سړی یم
نه د لیري یا نژدې یې ګاونډی یم

تر ما ښوله تور مرغان ښه د سعودي دي
نه د باغ یې خار او خس او نه اغزی یم

پټ دردونه مې کوګل کې راژړیږي
غریبي ده پر ورتلو یې مېړنی یم

له ازله بې نصیبه یم پوهیږم
یوه دعاء مې پر خوله نه رائې ګونګی یم

دا مخلوق خو به له ورایه را پوهیږي
خپل له حاله څه بې حاله لېونی یم

عشق او غم کې خو یې دوه مره مرحلې دي
ایره خاوره کله زر کله غمی یم

زه ظریف د خدای په فضل او کرم یې
یار آشنا یې له پخوا او اوسنی یم

ketabton.com - The Digital Library



# راځه ورکه

مدینه منوره ده راځه ورکه
د ګلونو ګل دسته ده راځه ورکه

زه په خدای چې تر کعبې پسې کړیږم
زما د زړه سپینه پرده ده راځه ورکه

ښکلول یې خوارو خولو له نه رسیږي
وهغې له اشاره ده راځه ورکه

ربه عفوه راته وکړې ګوستاخۍ کې
خوږې مینې کې مکه ده راځه ورکه

غریبي ده ملامت نه یمه خدایه
حج خو پرېږده نن عُمره ده راځه ورکه

ښه حاجیان یې او به راوړي تبرُک له
بې نصیبه یم هغه ده راځه ورکه

د ظریف خو به نصیب او که به نه سي
پرنهمي عرفه ده راځه ورکه

ketabton.com - The Digital Library



# کړېږم

ذو الجلاله مدينې پسې کړېږم
حجازي نبي روضې پسې کړېږم

عُمر تېر مې اوس سپين ږيرى يمه ربه
ستا رضاء او ارادې پسې کړېږم

په ژوندون مې مخامخ بابِ سلام ته
دې درشل او دروازې پسې کړېږم

که در ومې غواړې دا به دي کرم وي
په رنګينې زرغونې پسې کړېږم

خدايه څه ښکلي مُرغان بې پر فضاوي
د دوى هرې نظارې پسې کړېږم

خلک ګرځي د آشنا په شنه روضه کې
زه د ښاريي په ايرې پسې کړېږم

و ظريف ته يې بيا راولې خالقه
تيري شپې خوند او مزې پسې کړېږم

ketabton.com - The Digital Library


# رب بللي

رب بللي تر مکې پوري ورځي
له حج وروسته مدينې پوري ورځي

بختور باب ِسلام پر لار روان وي
د اشنا ښکلي روضې پوري ورځي

د چا زړه به لا چاودلی له پخواوي
خپل مرګي او جنازې پوري ورځي

څه کسان به وي ژړا پر سر اخيستي
نور حُجاج بې تنداري پوري ورځي

هر حاجي له دې سفره عزتمند سي
خاص او عام يې دروازې پوري ورځي

ډېر غنيان وي خو پر بله خوا روان وي
لوی ساقي او ميخانې پوري ورځي

دا به څنګه يوه ورځ وي ذو الجلاله
چي ظريف به يې کوڅې پوري ورځي

ketabton.com - The Digital Library



## شرمنده ولاړیم

سر مې کښته شرمنده ولاړیم ګوره
اوس راغلی یمه خدایه ستا ترکوره

د بخښنې بل کوم در او ګودر نه ستا
چې روان سمه پر هغه لار او لوره

سجده به تا ته وکړم په زاریو
خپل تندی به در چپه کړمه نسکوره

دا یو کار مې پر ځان پور او زور منلی
مخ به تور کړم په ایره او یا په سکوره

ګناهونه زمونږ د هر یوه معاف کړې
په حُرمت د آخرین نبي غمخوره

په قیامت چې ښه او بد سره جلا کړې
امان راکړې د کفار وله پیغوره

زما ظریف پر او ښکو رحم وکړه خدایه
لا به ژاړمه کرار او څه په زوره

ketabton.com - The Digital Library



# ښکلې روانېږم

لکه چې پښتې به یم لکه سر به روانېږم
مدینې ته په سفر به روانېږم

د ادب درخواست به وکړم له خدایه
په حیا او په هُنر به روانېږم

که دې نه وای د کعبې اثر به نه وای
په حدیث د پیغمبر به روانېږم

یو ور پښته به یې پر عرش او فرش ور نه کړم
هغه خوا ته د سرور به روانېږم

د عشق لاره مې اخیستې کړه نه ده
د یار کور ته برابر به روانېږم

ما ترا وسه دا اختر لیدلی نه دی
سبا ورځ مې د اختر به روانېږم

زه ظریف به خپلې دوې سترګې ښکلور کړم
هغه ځای مې د نظر به روانېږم

ketabton.com - The Digital Library



# ننواتی یم راغلی

ننواتی یم راغلی د زړه سره
درب روی دی ستا سو غواړمه نظره

د فراق ښامار خوړلی یم جانانه
د وصال په غېږ مې دم کړه منوره

که د تهولي مدینې دردونه شمار کړم
نن مې درد تر زورور دی یو په زره

ماویله چې روضه کې به دي مرمه
خو د ژوند اختیار مې لاس کې دی د اکبره

خواږه عشق دي اوس په توره ګزار راکړ
ور نیولې مې سینه ده لکه سپره

الصلاة والسلام واوره له میني
دوه لاسونه مې نیولي دي پرسره

دا راغلي چې روضې ته دي ولاړ دي
زما ظریف سره به څوک وي برابره

ketabton.com - The Digital Library



## وای فراقه!

ښه مکه او مدینه سوه پاته
څه خوندونه او مزه سوه پاته

د لبیک لبیک ږغونه تلبیې وې
خوندوره تلبیه سوه پاته

لوی طواف او د صفا مروه شوطونه
د عُمرې هم سلسله سوه پاته

چې به هر یوه لاس پورته بیا به یې ښکل کړه
وهغې ته اشاره سوه پاته

ټول به ګډوډ روان وه خوندي ورونه
خوندي ورونه مې سکه سوه پاته

ماچې کوم ژړا فریاد کاوه عسکره
حیران ده پر بې اندازه سوه پاته

زما (ظریف) د ستر ګو اوښکې شنې روضې کې
پر غالۍ یوه یوه سوه پاته

ketabton.com - The Digital Library



## دا مي سوال دی

یا ربه دا مي سوال دی شنه روضه مه ورانوه
پر ښکلې چي یې ولاړه منار مه ورانوه

کعبه که تباه کیږي د حاجیانو خوابدیږي
په زړونو کي دننه دا کعبه مه ورانوه

له ځان سره چي سمه دي ساتلې ده په رحم
د خپلي پاکي میني خزانه مه ورانوه

عُشاق او عاشقان یې بې حسابه دي خالقه
د خوارو عاشقانو معشوقه مه ورانوه

څه ډیري هدیرې دي په جهان کي غټي غټي
دا هر یوه ترجار کړه دا یوه مه ورانوه

قیامت کي به ولاړ عرش او کُرسي لوح قلمه
هغه چي وي قائم ښه مدینه مه ورانوه

یا ربه ذو الجلاله دا دُعاء مي را قبوله
زما خوار ظریف د زړه دغه پرده مه ورانوه

ketabton.com - The Digital Library



## د عشق درد

ستا له عشقه پټ دردونه مي خواږه دي
د زړه منځ کي پرهرونه مي خواږه دي

له ترخو يي شيريني ده يو په سله
په زخمو کي مرهمونه مي خواږه دي

د لوی رب فضل احسان دی يو يو وخته
نيمه شپه کي څه خوبونه مي خواږه دي

ياره اوس خو د خوب وخت دی يم په طمع
ستا د وصل اُميدونه مي خواږه دي

د حاجيانو قافله خو ده روانه
مدينې ته سلامونه مي خواږه دي

کاشکي زه دي د کوڅې يا کلي سپی وای
خدای خبر دا ارمانونه مي خواږه دي

زما ظريف شعر دي په سپينه مينه رنګ دی
ځکه رنګ په رنګ شعرونه مي خواږه دي

ketabton.com - The Digital Library



## څه ورته ډالۍ کړم؟

مبارکه ښکلې میاشت ده د شعبانه
سترګي روڼي مي پر مخ سوې د سلطانه

څه ورپېش کړم د وصال په نذرانه یې
دواړي سترګي روح او زړه مي تر قربانه

را قبوله که هدیه مي کړې حبیبه
دا هدیه مي په هدیه وو کي ارزانه

د ژړا او د زارۍ حاصل مي واخیست
شُکر شُکر خو پوره مي سو ارمانه

روغ او جوړ خلک خو سته پر دنیا ډېره
د اشنا مي ولي خوښ دي مریضانه

زما له ګرمي ویني میني خبر نه دي
ځکه پټ را پوري خاندي رقیبانه

ما ظریف کي څه کمال دی نه پوهېږم
یار مي وایي یاره ته رابانـدي ګرانه

ketabton.com - The Digital Library



## د وصال روژه مات

د اختر مبارکي درکوم تا ته
د رب روی دی مخ راواړوه و ما ته

لا د سترګو مي روژه ده آی دلبره
ثه راوبخښه د وصل روژه ما ته

د ښو خلکو په لاسونو امانته
یو سلام مي در لیږلی ستا و خوا ته

په جواب او په ثواب کي یې له میني
یو وار و ګوره حسینه زما و خوا ته

د حاجیانو قافلې در روانیږي
کال په کال یمه له دې سفره پاته

د خیرات او صدقې مال خو دې پریږي
په دریمه سیپاره کي یو آیاته

ما (ظریف) ته خپل د وصل سرمایه کي
یا خو را کړه سرسایه او یا زکاته

ketabton.com - The Digital Library



# د وصل حال

لـــوی اختـــر ســـره ښـــه بـــل لـــوی اختـــر راغلـــی
را څـــــه تللـــــی مـــــي دلبـــــر منـــــور راغلـــــی

د راتـــــګ دا کیفیـــــت یـــــې د زغـــــم نـــــه دی
پـــــه راتلـــــو یـــــې د انـــــوارو اثـــــر راغلـــــی

پـــه یـــوه جـــام یـــې لـــه حالـــه کـــړم بـــې حالـــه
چـــې ســـاقي آشـــنا د حـــوضِ کـــوثر راغلـــی

د احســـــان او د کـــــرم جـــــال کـــــې دننـــــه
پـــــټ د خـــــدای د رحمتونـــــو جـــــوهر راغلـــــی

یو څـــه وخـــت خـــو پـــر مـــا تـــورتم او تیـــاره وه
ربـــه شُـــکر ښـــا شـــمس او قمـــر راغلـــی

ښـــکلي ښـــکلي صـــحابه پـــر ده راټولـــه
نـــه پـــوهېږم لـــه محـــراب کـــه ممبـــر راغلـــی

مبـــارک دي دا نعمـــت ســـه ای ظریفـــه
چـــې دي تللـــی حبیـــب بیـــا پـــه نظـــر راغلـــی

ketabton.com - The Digital Library


## دستار دي مبارک سه!

ای مؤمنـــــه ســــپین دســــتار دي مبـــــارک ســــه
دا ســــپیڅلې د دیــــن لار دي مبـــــارک ســــه

د قـــــرآن او د حـــــدیث پـــــه زېـــــب ځلیـــــږي
د علومـــــو دا ســـــینګار دي مبـــــارک ســـــه

د عـــالم پـــه یـــو خـــوارۍ ســـره عـــالم ســـوې
خوشـــحالي د مـــور او پـــلار دي مبـــارک ســـه

عزتمنـــــد خلـــــک راغلـــــي ســـــتا لپـــــاره
دا لـــــوی قـــــدر او وقـــــار دي مبـــــارک ســـــه

ډیـــرو خلکـــو ګـــل او هـــار راوړه تحفـــه کـــي
دا ګلونـــــه او ګلهـــــار دي مبـــــارک ســـــه

منتظـــــر لا منتظـــــروي تـــــر دې وختـــــه
دومـــره صـــبر انتظـــار دي مبـــارک ســـه

پـــــه شـــــعر و دي نازومـــــه د ســـــر تاجـــــه
زمـــا ظریـــف د قلـــم ښـــار دي مبـــارک ســـه

ketabton.com - The Digital Library



## د قرآن حُسن

حسین مخ یې په خالونو ښایسته دی
تر جملهوو کتابونو ښایسته دی

درې کتابه صحیفې یې کړې منسوخه
خپل په ټولو آیاتونو ښایسته دی

عالمان دهر زمان په مُزین دي
نن د دوی په دستارونو ښایسته دی

له باطلو تقریرو سره جوړ نه دی
په رشتیا ښه بیانونو ښایسته دی

پر جهان یې حکمران کړه ذوالجلاله
د مؤمن په جهادونو ښایسته دی

دا مخلوق چې یې اوس اوري یو له بله
پر دا ټولو کلامونو ښایسته دی

ښه روان په ناظره سره مې زده وای
زما ظریف په ارمانونو ښایسته دی

ketabton.com - The Digital Library



## د قرآن هیبت

ښه حسیني سیپارې د پاک کلام دي
جبرائیل باندي لرزې د پاک کلام دي

خلک نور علمونه زده کړي عالمان سي
ډېري خوښي مي قیصې د پاک کلام دي

هر یو کس یې له اعجازه خبر نه دی
ما لیدلي مُعجزې د پاک کلام دي

که پر غرېې رب نازل کړي سره چوي
هیبت ناکي دبدبې د پاک کلام دي

په عالي شان او عزت یې خدای خبر دی
ډېري لوړې مرتبې د پاک کلام دي

پر دي مځکې یې حاکم کړه لویه خدایه
نازنیني فیصلې د پاک کلام دي

زه ظریف دا شعر لیکمه زړه مي ریږدي
پر صورت مي زلزلې د پاک کلام دي

ketabton.com - The Digital Library



## د زړه خوښ

ستا له رویه عالمان مي یاره خوښ دي
دا سپېڅلي سیدان مي یاره خوښ دي

خوږه ژبه دي قربان سم عربي ده
د عربو عربان مي یاره خوښ دي

بختور دي چي پر کلي دي پرواز کړي
دا کوترې او مُرغان مي یاره خوښ دي

پر روضه چي دي له پاسه راوریږي
دغه څاڅکي د باران مي یاره خوښ دي

چي له عشقه دي کالو کي نه ځاییږي
د دي میني مُحبان مي یاره خوښ دي

خاورې لوټي چي تر پاک وجود دي لاندي
تر دي مځکي او آسمان مي یاره خوښ دي

زه ظریف ورپسي ګرځم بویم یې
ستا د کلي ښار ګُلان مي یاره خوښ دي

ketabton.com - The Digital Library



## د مجذوب حال

د بې حالو خوند مزه وي لېونتوب کې
په نشو کې به نشه وي لېونتوب کې

سر تر پايه پرسېدلی وي له عشقه
نه خو وېښ او نه بيده وي لېونتوب کې

يو انسان يې له مقامه خبر نه وي
ښه پر لويه مرتبه وي لېونتوب کې

د مجنون غوندي به ګرځي پر دښتونو
له کور کلي يې توبه وي لېونتوب کې

دم درود يې له دم ګرو سره نه وي
بې اثره له وُده وي لېونتوب کې

هوښياران به يې په کانو لوټو ولي
له هغو نه يې ګيله وي لېونتوب کې

زه ظريف يې تر ولچک او زولنو کړم
عجيب حال او مرحله وي لېونتوب کې

ketabton.com - The Digital Library



## د عشق خوند

کـــه هـــر چـــا وي نـــن څکلـــی د عشـــق خونـــد
نـــه پـــوهیږي د واعـــظ پـــه وعـــظ او پنـــد

دا نـــور خلـــک یـــې لـــه حالـــه څـــه خبرېـــږي
ښـــه نشـــه لکـــه شـــهید وي د میونـــد

د رب فضـــل او کـــرم پـــه طاعـــت نـــه دی
و یـــو کس لـــه بـــه عســـل ورکـــړي یـــا قنـــد

د دنیـــا لـــه رواجـــو کلـــه خبرېـــږي
د ده فکـــر وي آقـــا ســـره پیونـــد

تـــول صـــورت یـــې وي خونـــدونو ورتـــوږلی
لکـــه بـــانس وي چـــا تـــوږلی بنـــد پـــر بنـــد

پـــر خوشـــحال زړه بـــې د زړه همســـایه ګرځـــي
ځکـــه غبـــږ پـــر را تـــاو کـــړي وي دلبنـــد

منتظـــر ګـــوري ظریـــف و هغـــه شـــپې لـــه
چـــي لاســـونه کـــړي آشـــنا لـــه کمـــر بنـــد

ketabton.com - The Digital Library



## لېونتوب

که خبر څوک د بې حالو په حالته
و به نه غواړي لوی تخت د سلطنته

پر سپېرو خاورو به ګرځي خوار حقیره
پر لګیږي به هواوې د جنته

قریبان به یې له حاله خبر نه وي
پر حاوي وي د رب فضل او رحمته

په دي خپل جنون به دومره وي خوشحاله
نه ملا او نه یې پیر له وي حاجته

یو او بل خو به یې ښه په کانو ولي
په هر ځای کې به پروایي ملامته

هیڅ خبر به په ثواب او ګناه نه وي
لېونیان وي د یو چا پر هدایته

پر ظریف یو حال راغلی وو خو تېر سو
وریادېږي هغه ښه خوند او لذته

ketabton.com - The Digital Library



# په درد کې خوند

د یار عشق او لوی دردونه ښکلي پر ښکلي وي
بې خوندي او ښه خوندونه ښکلي پر ښکلي وي

د عُشاقو لاس هم پښو له وینې سترګې
لوی ولچک او ځنځیرونه ښکلي پر ښکلي وي

د فانوس زړه کې د ننه مخامخه
نور انوار او تور تمونه ښکلي پر ښکلي وي

بختورو غُرو سره وي غېږ په غېږه
سپېره کاڼي او لعلونه ښکلي پر ښکلي وي

یوه ښار کې خو مسجد وي هم مطربه
ښه وعظونه او سازونه ښکلي پر ښکلي وي

خاوره مځکه دوه رنګونه خو یې ګوره
وچې پرښې او باغونه ښکلي پر ښکلي وي

زما ظریف ګرمو سړو ورځو کې ژوند دی
راتـه فرحه او غمونه ښکلي پر ښکلي وي

ketabton.com - The Digital Library



## د هجر ژوند

بېلــه تــا خـــو یـــاره ژونـــد رابانـــدي تنـــګ دی
مـــخ ښـــکاره کـــه زړه مـــي ســـتا د مـــخ پتنـــګ دی

حـــال مـــي ګـــوره نـــن ځورېږمـــه لـــه هجـــره
زمـــا کوګـــل خـــو دي را ســـوی لکـــه بنـــګ دی

د فـــراق لـــه غمـــه ســـازو هـــم زنګېـــږم
تـــه بـــه وایـــې خولـــه ربـــاب ژبـــه یـــي چنـــګ دی

چـــا کـــش کـــړی چـــي لـــوګی لـــه خـــوارہ عشـــق دي
هغـــه کـــس دي نـــن د تـــورو ســـپو ملنـــګ دی

هـــر عاشـــق خـــو دي لـــه خپلـــه ځانـــه تېـــر دی
پـــه دي کـــار کـــي بـــې پـــروا لـــه عـــار او ننـــګ دی

آهنګـــر د ښـــکلي ښـــار دي ښـــه عطـــار دی
لـــه ســـکاره یـــې جـــار قربـــان ســـمه لونـــګ دی

ظریـــف ســـتا پـــه مـــخ امـــداد غـــواړي لـــه خدایـــه
اوس لـــه نفـــس اولـــه هـــوا ســـره پـــه جنـــګ دی

ketabton.com - The Digital Library



## د اوښکو تحفه

رب دي راولـــه آشـــنا راځـــه راځـــه
نیمـــه شـــپه ده مرحبـــا راځـــه راځـــه

ســـتا حضـــور تـــه بـــه تُحفـــه کـــړم خپلـــي اوښـــکي
دا هدیـــه مـــي در فـــدا راځـــه راځـــه

لـــه فراقـــه دواړي ســـترګي مـــي ړنـــدې وې
پـــه لیـــدو دي ســـوې بینـــا راځـــه راځـــه

ســـتا د وصـــل نـــه فـــراق طاقـــت لرمـــه
هـــم دي ویـــنم هـــم پنـــا راځـــه راځـــه

یـــو څـــه زړه رابانـــدي وســـوځه دلبـــره
خـــوار او زاریـــم بېنـــوا راځـــه راځـــه

اجـــازه راکـــړه پـــر پښـــو دي شـــونډي کښـــېږدم
مـــا ښـــکل کـــړي لا پخـــوا راځـــه راځـــه

زمـــا ظریـــف نـــاز راقبـــول کـــړه نازنینـــه
غـــم بـــلا دي ســـه پـــر مـــا راځـــه راځـــه

ketabton.com - The Digital Library



## جلا به يم تر كومه؟

زه لــــه تاســــو را جـــلا بـــه يـــم تـــر كومـــه
ړونـــد او كـــوڼ او نابينـــا بـــه يـــم تـــر كومـــه

كلـــه بيـــا بـــه ســـره كښـــېنو څنـــګ پـــر څنګـــه
دا يـــــوازي يـــو تنهـــا بـــه يـــم تـــر كومـــه

اوس مـــــــريض يمـــــــه د وصـــــــل دارو را كـــــــړه
بـــې عــــلاج او بـــې دوا بـــه يـــم تـــر كومـــه

ســــوچ او فكـــــــر يـــــــم د هجــــــر كړولــــــى
لا اختـــه پـــه دا ســـودا بـــه يـــم تـــر كومـــه

يــــاره نــــن خــــو دي د خلګــــو د خنــــدا كــــړم
د عوامــــــو د خنــــدا بـــه يـــم تـــر كومـــه

لېونتــــوب او رســــوايي څــــه انــــدازه وي
پـــه رســـوا وو كـــي رســـوا بـــه يـــم تـــر كومـــه

زمـــــا ظريــــــف ژړا دي خوښـــــه ژړوې مـــــي
خــــوار او زار او بېنـــوا بـــه يـــم تـــر كومـــه

ketabton.com - The Digital Library



# د میني مرتبه

د الله رضا او مینه درسره ده
په ثلورو کتابو سره پخه ده

ډېر مخلوق درپسي ګرځي طالبانه
په دې عشق کي خورا لویه مرتبه ده

عاشقان دي یو له بله خبر نه دي
د چا زړه کي وي ګرمي د چا لمبه ده

څوک به اوس د مینتوب پر منبر ناست وي
پر چا تېره زولنو کي زمانه ده

د دې کښت حاصل خوښه ډېر قیمتي دی
د زعفرانو ثمره او کرونده ده

ملا وایي په شبقدر کي ثواب دی
پیدا سوې دې له رویه دغه شپه ده

دا وینا به کله وکړي ما ظریف له
چي راځه نن زما وخوا ته اجازه ده

ketabton.com - The Digital Library


## په چا پسي ګرځم؟

د بـــــورا غونـــــدي ګُلانـــــو پســـــي ګـــــرځم
هـــــر چمـــــن کـــــي بُلبُلانـــــو پســـــي ګـــــرځم

د عُشـــــاقو د پښـــــو خـــــاورې ښـــــکلومه
نـــــن د يـــــار پـــــه عاشـــــقانو پســـــي ګـــــرځم

د اســـــلام پـــــر لاره ســـــم چـــــي وي روانـــــه
پـــــه دا ښـــــکلو عالمـــــانو پســـــي ګـــــرځم

چـــــي د ټـــــول اُمـــــت مشـــــعلاو ســـــرداران دي
زه پـــــه دغـــــو ســـــيدانو پســـــي ګـــــرځم

چـــــي د يـــــار پـــــه ښـــــاراو کلـــــي کـــــي ميشـــــته وي
دي حســـــينو عربـــــانو پســـــي ګـــــرځم

چـــــي کتـــــاب يـــــې د نعتـــــو پـــــه رنـــــګ رنګـــــين وي
پـــــه هغـــــه رنـــــګ شـــــاعرانو پســـــي ګـــــرځم

مـــــا ظريـــــف تـــــه چـــــي د خـــــدای لپـــــاره ګـــــران دي
پـــــه هغـــــه پنځـــــه ګُلانـــــو پســـــي ګـــــرځم

ketabton.com - The Digital Library



## د وصل انتظار

ډېر په انتظار یمه هفته راته یو کال دی
پوه مې کړه دلبره کوم ساعت مې د وصال دی

خوار او زار مریض د عیادت په طمع ګورمه
کله به مې و پوښتې چې یاره څه دې حال دی

نه سمه در تلای یو تقدیري ځنځیر تړلی یم
زما خوښه څو نه ده دا خو کار د ذوالجلال دی

خپل په سوچ او فکر مې ترما په زړه زخمي نسته
نېک نظر پر راکړه یاره ستا څرنګه خیال دی

دا ارمان لرمه چې دا زړونه ښکاره کېږي نه
خوله به باندې مېین څو هر سړی لکه بلال دی

بیا راسه ای ګرانه په روغبړ کې غېږ په غېږ به سو
زما او ستا په مینه محبت کې لوی کمال دی

زه ظریف دې وینم کله کله څه بې حاله سم
دا دې یو اثر د ښایسته ښکلي جمال دی

ketabton.com - The Digital Library



## د هجر حال

هجـــــر شـــــپه ده مــــــخ راواړه وه آفتابـــــه
پـــــه رڼـــا کـــــي خـــــو دي اجــــراو ثوابـــــه

لا تــــر څـــــو بـــــه دارنګــــه خــــوار او خــــازه يـــم
لکــــــه يـــــخ خـــــزان وهلـــــى ګـُـــل ګُلابـــــه

زمـــــا ښــــه ږوږ او فريادونــــه بــــه دي خـــوبښ وي
دامــــــي ځکــــه ســــوځوي ســـــوى کبابـــــه

منتظـــر خـــو هـــره شـــپه يـــم پـــه خوبـــو کـــي
ګونـــدي ليـــري کـــړي لـــه مخـــه ســـپين نقابـــه

عشـــق دي داســـي زماپـــه زړه کـــي پـــټ را پـــټ دی
لکــــه مــــخ وي د مســــتوري پــــه حجابــــه

د عُشـــــاقو دي دردونــــــه شـــــاګردان دي
چـــا خــــو يــــو بـــاب وي لوســـتلى چـــا کتابـــه

مـــا ظريـــف بـــه څـــوک جلا کـــړي ســـتا لـــه څنګـــه
کــــــه دي وويــــــنم پر تلـــــه او حســـــابه

ketabton.com - The Digital Library



## د زړه درد

هر عاشق دي يو وصال پسي بېتابه
په حسين مخ دي خوش بويه ګُل ګلابه

دا چي نن پر لوړ آسمان باندي ځليږي
دا د چا په نور روښانه سو آفتابه

رب که ستا د عشق ذره و چاله ور کړي
هغه تېر بيا له حبيبه او حُبابه

هوښياران چي بس د ليري ورله ګوري
دوی به وايي لېوني سو په عذابه

که زه خپل د زړه دردونه وليکمه
يقين و کړه برابر به سي کتابه

نن مريض يمه پوښتني ته مي راسه
مريضانو عيادت کي خو ثوابه

زه ظريف دي ميني واخيستم پر سره
نه پوهېږم سمندر او که سيلابه

ketabton.com - The Digital Library



## خوږ پرهر

ثوک چې یار پسې بیمار سي بیمار نه دی
که منصور غوندې په دار سي په دار نه دی

دا خواږه زخمونه چې پر زړه وي
دا هر زخم خو مرهم دی پرهار نه دی

په ظاهره خو عشق اور دی یا سکروټه
په پرده کې رحم نور دی انګار نه دی

که چا وویل دې لاره کې خطر دی
په مذهب د عاشقانو هوښیار نه دی

د ریبار پر کوڅه ځم کله راځمه
زموږ د وصل و ښه کار له تیار نه دی

هره لاره لټومه چې واصل سم
نن مې بخت راسره یار او همکار نه دی

که ظریف له مخ ښکاره کړي له حجابه
د بل چا رنګ او سینګاریې په کار نه دی

ketabton.com - The Digital Library



## مریض او علاج یې

مریضـــــان در پســــــي ګرځـــــي لــــوی طبیبـــــه
عـــــلاج غــــــواړي ای د پـــــاک الله حبیبـــــه

یـــو بـــه لیـــري لــــه دردو ســـره پـــر څنـــګ وي
د بـــــل کــــور بــــه وي روضــــې ســــره قریبــــه

ســـتا د مـــخ نـــور تجلولـــه بـــه څـــوک ټینـــګ ســـي
د انـــــوارو تــــاج پـــــر ســـــر لـــــرې عجیبــــه

څـــوک دي غــــرو څـــوک ځنځیــــرو لــــه برابــــر کــــړه
د حســـــاب لــــــه حـــــده تیــــر دي د حســــیبه

هـــــیڅ د خلکـــــو پــــه خنــــدا یــــې پروانــــه وي
خپــــل پــــه کــــارکي خــــورا پــــوه وي لـــوی لبیبـــه

د عُشـــــاقو زړه کــــــي کــــــور لـــــري د مینــــــي
لــــوی ولــــــي او عــــــزت منـــــد وي کـــــه غریبــــه

زه ظریـــــف خـــــودي لــــه ډیـــرو ســــره یــــار کـــړم
راتــــــه ګــــران دي شــــــاعران او هـــــــرادیبــــه

ketabton.com - The Digital Library



## پخه یاري

راځې به کله بیا چیري خندا را څخه غواړې
پوهېږمه د ګرمو او ښکو ورا را څخه غواړې

په شپه یې درلېږمه بې له دوی نه پخلا کیږې
ژړېږمه تر څو به لا ژړا را څخه غواړې

یو رب دی را خبر چې څو مره ړوند درپسې ګرځم
یاري او محبت پخه سودا را څخه غواړې

له بل سره چې یار سم په دي کار دي خوا بدیږې
صفا یوه توبه د نصوحا را څخه غواړې

زه ستا د میني حال کې لیونی ومه څه وخته
د عشق پر خوږه لاره لیونتیا را څخه غواړې

منمه ډېر وډېر و محفلو کې دي رسوا کړم
پر ما باندي د خلکو څه خندا را څخه غواړې

ظریف یمه یاري دي تر ولچک او زولنو کړم
دا دومره مینه بس ده که بالا را څخه غواړې

ketabton.com - The Digital Library


## د میني زور

یاره ستا د عشق لمبې او اور مې خوښ دی
د زړه کور کې بس د ویني شور مې خوښ دی

ښه سونن د عشق طوفان سره پخلا یم
د دې سپیني خوږې میني زور مې خوښ دی

چې له ځان اوله جهانه خبر نه سم
نشه ئې غوندې خوب وړی کور مې خوښ دی

پسې ګرځمه چې کوم ځای بې پیدا کړم
شیرین غم دې کړولی ورور مې خوښ دی

یو وربښته به یې پر شاه ګدا ورنه کړم
دا بلال خودې له سپینو تور مې خوښ دی

هغه ځای کې چې اقرأ نزول پرسوی
د حضرت موسی پر کوه طور مې خوښ دی

خلکو واورئ د ظریف قسم په خدای بس
خپل ترځان اولاد هم پلار او مور مې خوښ دی

ketabton.com - The Digital Library



## د اوښکو جرګه

اوښکي ریباراني مي په یار پسي لیږلي دي
خدای دي خیر ورکړي په ښه کار پسي وتلي دي

رب ته امیدوار یم تنواتي به یې ومني
ځکه مي جوړه جوړه په شپه وراستولي دي

دا خو بس د ده احسان دی شُکر بې ادا نه کړم
ښه تازه جامونه یې تُحفه کي رالیږلي دي

په هرجام کي یې مزه ده خو دخولې جام یې جلا دی
شونډي مي پر شونډو او پر پښو ورلګولي دي

خلک څه خبر دي چې یاري مو څومره ټینګه ده
ما اوده په دواړو خو یو بل ښه نازولي دي

زاهد خو خپل ذکرونو او نفلونو ته حیران دی
لوحه کي له وختَه دا هر ښه او بد لیکلي دي

ظریف یم ژړېدلی کړېدلی له هجرانه
ما دیار له غمه ګرمي تر مي رژولي دي

ketabton.com - The Digital Library



## دلبر مي وليدی

يـــا شُـــکر دي وي خدايـــه چـــي دلبـــر مـــي وليـــدی
ســـردار د ښـــکلو ښـــکلو لـــوی افســـر مـــي وليـــدی

زمـــا ســـترګي يخـــي نـــه ســـوې د ده مـــخ تـــه پـــه کتلـــو
پـــــه زړه کـــــي مـــــي د ننـــــه د زړه ســـــرمي وليـــــدی

يوښـه نېکمرغـه شـپه ده بخـت مـي ويښ سـولو لـه خوبـه
د خـــــدای د رحمتونـــــو يـــــو نظـــــر مـــــي وليـــــدی

دا وصـل ښـنـګ پـر ښـنـګ يـې زمـا کمـال او هُنـر نـه دی
د فضـــــــل او کـــــــرم لـــــــه ســـــــمندرمي وليـــــــدی

اشـــــنا خـــــو مـــــي د مينـــــي انـــــدازه ښـــــه لګـــــولې
يـــوه شـــپه کـــي دوه واره ســـر پـــر ســـر مـــي وليـــدی

دا ګـــــل يـــــوازي نـــــه وو نـــــور ګـــــلان هـــــم ورســـــره وه
صـــــديق عمـــــر عثمـــــان علـــــي حيـــــدر مـــــي وليـــــدی

ظريـــــف يـــــم د خوښـــــيه پـــــه جـــــامو کـــــي نـــــه ځـــــايېږم
حســــــين او نــــــازنين نبــــــي ســــــرور مــــــي وليــــــدی

ketabton.com - The Digital Library



## دا سودا نه کوم

دا شرق او غـرب کـه راکـړي د یـار در بـه پـرې ور نـه کـړم
کـه عـرش او کُرسـي راکـړي یـو دلبـر بـه پـرې ور نـه کـړم

څــوک دا او څــوک خوهغــه دنیــا غــواړي پــه ســوالونو
د دواړو پــه بــدل کــي هــم ســرور بــه پــرې ور نــه کــړم

شــیدې، اوبــه، عســل او پــاک شــراب د جنتونــو
کـه سـر پـه سـر سـوداوي یـو کـوثر بـه پـرې ور نـه کـړم

نــور تــول جهــان پــردی دی دا اشــنا مــي د زړه ســره
کـه مځکـه اسـمان راکـړي د زړه سـر بـه پـرې ور نـه کـړم

د یــار د کــوڅې خــاوره او ایــره ښــکلي عنبــره
کــه ټولــه عطــر زماســي خــو عنبــر بــه پــرې ور نــه کــړم

د زرو قــدر ګــوره و زرګــر تــه ښــه معلومــه
کـه ختــي لـو ټي راکـړي خـو سـره زر بـه پـرې ور نـه کـړم

زه خــوار ظریــف خــو ناســت یــم د نظــر پــه اُمیــدو یــې
کـه لمـر او سـپوږمۍ راکـړي دا نظـر بـه پـرې ور نـه کـړم

ketabton.com - The Digital Library



## څوک درپسي ګرځي؟

بې مثله ښکلې ګله هر بورا درپسي ګرځي
را شروع یې له آدمه روح الله درپسي ګرځي

نبي او پیغمبر دي د امت درجه غواړي
طالب د مدرسې او هر ملا درپسي ګرځي

عُشاق او عاشقان خو دي له شماره دي وتلي
دا ټوله سیدانه اولیاء درپسي ګرځي

سم پیر د طریقت په رښتیا سره چې پیروي
مریده خلیفه او ښه آغا درپسي ګرځي

وهر چا ته چې وخاندې له ورایه لېوني سي
له کوره مرور سي پر صحرا درپسي ګرځي

د چا مینه وي ډېره د چا لږ په څه نا څه وي
یو خوار درپسي ړوند او بل بینا درپسي ګرځي

ظریف له دي غېږ ورکړه په یو مینه محبته
نن ځکه نا قراره خو هر خوا درپسي ګرځي

ketabton.com - The Digital Library



## له چا سره یاري کوي؟

وګوره و ګل ته له اغزي سره یاري کوي
ګرځي په سرو کي لېوني سره یاري کوي

ښکلی بې مثال دی ډېري سترګي ورکړې دي
خپل د نظرماتي سپېلني سره یاري کوي

ښه د عاشقۍ په وزن ډېر عاشقان و تلي
مینه کي یو من وي دې سړي سره یاري کوي

دی د چا پر حُسن او طاعت باندي مین نه دی
خپل د تورو سپو له یوه سپي سره یاري کوي

یار په مریضانو پسي ګرځي نیمه شپه کي
خوږ په زړه اره زخمي سره یاري کوي

کوم شاعر چي و ویني یو یار پسي کړېږي به
دغه خواږه غم کي شاعري سره یاري کوي

ظریف او یاري پسې دواړه ورځ کې بېل او جلا ګرځي
په توره تاریکه کي دوی د شپې سره یاري کوي

## څه حسین او نازنین دی

ذو الجلال خو له اشنا سره آشنا کړم
خپل له یار هم یې آقا سره آشنا کړم

څه حسین او نازنین دی بې مثاله
له ښایست هم یې ښکلا سره آشنا کړم

نن مې اوښکې له ښهو دي مروري
خواږه غم هم یې ژړا سره آشنا کړم

د جنون شربت یې را کړه پټ په پټه
له مجنون هم یې لیلا سره آشنا کړم

له هجرانه ځورېدلی یم مریضه
خپل دارو هم یې دوا سره آشنا کړم

علماوو سره ګرځم څنګ پر څنګه
له سید هم یې ملا سره آشنا کړم

زه ظریف خو بس هم دی غواړم له خدایه
له زارۍ هم یې دعا سره آشنا کړم

ketabton.com - The Digital Library



## څه مي نه هېرېږي؟

ستا د مخ هغه ځېره مي نه هېرېږي
هغه وخت او هغه شپه مي نه هېرېږي

چې دي مخ توره تياره کې وو روښانه
د انوارو دا جلوه مي نه هېرېږي

نيمه شپه کې چې راويښ سوم لېوني وم
د جنون هغه جذبه مي نه هېرېږي

مخامخ مي ښه پر تا وويل ګرانه
دا ويلې کليمه مي نه هېرېږي

ستا خبره مي ساتلې ده په غوږ کې
هغه لعل او دردانه مي نه هېرېږي

چې سهار مي خپل له ځان سره ويله
هغه نعت او زمزمه مي نه هېرېږي

زه ظريف دي يو ذره کړمه بې حاله
د هغو ذرو مزه مي نه هېرېږي

ketabton.com - The Digital Library



# د یار مینه

اعلا ده د یار مینه قیمتي ده
تر دُرو بهترینه قیمتي ده

لباسونو کې بې مثله بې مثاله
په سل رنګه رنګینه قیمتي ده

که یو چاله په لاس ورسي نازوي دي
دا ډېره نازنینه قیمتي ده

د عشاقو زړو کې ګرځي مسته مسته
تاج داره لونګینه قیمتي ده

ښه خوشبويي د يو کس تر دماغ رسي
معطره عنبرینه قیمتي ده

هم په پښو کې یې د سرو سپینو پایزېبه
خالداره زرزرینه قیمتي ده

ای ظریفه دا د زړه پرده کې ساته
نظر به سي حسینه قیمتي ده

ketabton.com - The Digital Library


# خوږ عشق

له هر عشقه د سرور عشق مې شیرین دی
په سلواره تر عسلو انګبین دی

که هر چا په خوله او زړه وي لږ څکلی
په خواږه کې خوږ او بوی یې عنبرین دی

په دنیا زر او دولت نه پیدا کیږي
بې بها د ملغلرو یو نګین دی

رب په فضل او کرم مهربانۍ یې
دغه تیک یې راله ایښی پر جبین دی

د خدای رحم که وچاله مخامخ سي
رنګ یې نه ګوري چې تور سور او که سپین دی

څه به وو وایم د دا رنګه احواله
یو نعمت ښکلی پر سر روي زمین دی

زما ظریف مُشام راکاږي خپلې خواله
نه پوهېږم ګلاب یې که لونګین دی

ketabton.com - The Digital Library



## جلا ژوند

ستا له غمه کور او کلي کي رسوا یم
زه خوشحاله چي له خلکو نه تنها یم

عشق دي داسي نشه کړی یمه زړه کي
نه پوهېږم چي مجنون او که لیلا یم

څوک چي دې وینې او میني کي رنګین وي
له هغو سره همکاره په روا یم

یو قاصد خو شپه کي ستا له کوځې راغلی
راته وې ویل خبره درته وایم

پټ پیغام یې بس تر ما پوري واصل کړ
دې پیغام لوستلو وخت کي په هوا یم

کومه میاشت چي دي و نه وینم دلبره
کوڼ او ړوند درپسي ګرځم نابینا یم

زما ظریف د زړه دردو له نظرو کړه
هره ورځ دي له غمو سره آشنا یم

ketabton.com - The Digital Library



## ریبار

د آشنا مخ زما پر خوا که بله خوا دی
نه پوهېږم مرور او که پخلا دی

کوم ریبار به مي په پټه ورله بوزي
زموږ د وصل کار د پټي او د غلا دی

زړه مي درد کړي په خوږو خوږو دردونو
له مرهم سره دارو هم مي دوا دی

یو یې غواړي خر ګردونه له کوځې یې
بل ترڅنګ یې امامت کوي ملا دی

دا نور خلک هم له هجره څه کړیږي
که یوازي دا ماتم او غم پر ما دی

په محشر به یو خوا بل خوا پسي ګورم
ګوندي خدای وي څوک یې وښیي چې دا دی

زما ظریف شوندي یې شونډو ته رپیږي
پر لبانو مي ښکل کړی په روا دی

ketabton.com - The Digital Library



## په څه خوښ یم؟

ګرانه ستا د عشق په توره حلال خوښ یم
د مجنون او لېونیانو په حال خوښ یم

نن پر زړه مې اور بلیږي لکه شمعه
دغه تاو کې ګرم نرم خوشحال خوښ یم

ترا ته واړه جنته رب په وهیږي
یو ساعت دې غېږ په غېږه وصال خوښ یم

په خوږ غم کې دې عالي خوشحالۍ پټې
ټوله عمر پر دا لاره ملال خوښ یم

د حضرت یوسف له حسن څه قربان سم
له یوسفه په لیدو د بلال خوښ یم

که حاجیان یې را بیان کړي یو پر یوه
له هر نقله د روضې په احوال خوښ یم

رقیب وایي ظریف دې مینې عاصي کړ
ستا د مینې په ګناه او وبال خوښ یم

ketabton.com - The Digital Library



## تر اسمانه پسي ګرځم

خدایه څومره سرګردانه پسي ګرځم
دې مزلونو کې ستومانه پسي ګرځم

چې الله د ده له روی جهان پیدا کړ
په هغه آخر زمانه پسي ګرځم

د زړه سر مي یو ارمان سره تړلی
خپل خواږه ارمانه پسي ګرځم

په دوه لاسه ذوالجلال ته په زارو یم
په دعاء وو تر آسمانه پسي ګرځم

یار مي سپین دین او ایمان دی شکر شکر
تر مذهبه او ایمانه پسي ګرځم

بې ژړا یې ملاقات وي ډېر مشکله
خپل د سترګو تر بارانه پسي ګرځم

زه ظریف خو د عجم له سپېره کلي
د عربو تر بوستانه پسي ګرځم

## وخلکو ته به ژاړم

زه کله به دا ګل ښار ګلالي ته وګورم
سعودي د باغ ګلونو او اغزي ته وګورم

وخلکو ته به ژاړم چې د رب روی مې دروړی
ما پرېږدئ نن و قبر د نبي ته وګورم

ګاونډ کې همسايه به يې بېشکه لوی ولي وي
د سترګو تر بېخو به هر ولي ته وګورم

سړي خو يې لا پرېږده ټول عرب رابانډي ګران دي
د يار د کوڅي کلي به هر شي ته وګورم

که رب په فضل وروستم يو کال به نه راځمه
چې دوبي مني ژمي او پسرلي ته وګورم

پر ما به امتحان وي چې زه مرم که پاته کېږم
چې زما لويي دعوې او عاشقي ته وګورم

زه خوار ظريف به دا حالونه چيري وزغممه
که خپل وسوي زړه سوري سوري ته وګورم

ketabton.com - The Digital Library



## د دعوت طمع

در فدا له نوراني مخ او چشمانه
کومه شپه به یمه بیا کله مهمانه

د دعوت او وصل شپې ته منتظر یم
دا بلل غواړم په رحم د رحمانه

د وصال لوی ارمانونه مې ژړېږي
خدای دې وکړي چې پوره مې سي ارمانه

رب مې درولی وار تر ښکلي ښار دي
چې زه ووینمه ستا عربستانه

نه دا قبر هدیره مې سي معلومه
یو اثر مې پیدا نه کړي قربانه

حاجي و درېږي څنګ ته دي لا نه مري
زړه یې کلک دی له سوټکه او سندانه

زه ظریف دي په کوم نازونازومه
چې پر ګران یې له هغه یاره قربانه

ketabton.com - The Digital Library


## د سترګو خيرات

ســـائل يـــم ســـتا د ســـترګو و خيـــرات تـــه ولاړ يـــم
فقيـــــر يمــــه د حُســــن دي زکــــات تــــه ولاړ يـــم

ښـــه ډيـــري ورځـــي کيـــږي د فـــراق روژه پـــه خولـــه يـــم
پـــــه طمــــع د وصــــال و روژه مــــات تــــه ولاړ يـــم

عجيبـــــه احســـــانونه دي ښـــــه ډيـــــر راســـــره کـــــړي
احســـان دي پـــر احســـان و احســـانات تـــه ولاړ يـــم

د مينـــي محبـــت پـــه يـــو زنـــدان کـــي دي بنـــدي يـــم
راځــــي بـــــه کلـــــه يـــــاره ملاقـــــات تـــــه ولاړ يـــم

تحفـــې او ښـــه هـــديې خـــو دي راکـــړي دي بـــې شـــماره
پـــــه ډيـــــرو اُميـــــدونو وســـــوغات تـــــه ولاړ يـــم

وخـــداى تـــه پـــه ســـوالو يـــم مدينـــه مـــي رانصـــيب کـــړه
د دې ســــــفر لپــــــاره عــــــالي ذات تــــــه ولاړ يـــم

دا زمـــا ظريـــف شـــعرونه دي د مينـــي پـــه رنـــګ رنـــګ دي
د ښـــکلي شـــعر لپـــاره الهامـــات تـــه ولاړ يـــم

ketabton.com - The Digital Library



## په څه خوښ وو؟

لوی نبي یې په دیدار او ندا خوښ وو
لوړ سفر ته له مکې او اقصا خوښ وو

عرش کرسي یې هم ور لاندي تر قدم کړه
دا خپل یار یې له دي ټولي دنیا خوښ وو

په عزت یې وغوښتی و میلمستیا ته
کوه طور له ور بلل یې موسی خوښ وو

د ساحرو جادوګرو سحر یې مات کړ
دا ګل رنګ یې په سپین ید او عصا خوښ وو

هم یې ایښی وو د ځوان خوله کې اثره
پر تخته باندي و مړه ته یې سا خوښ وو

نبوت او باچاهي یې و سُلیمانه
دې مقام سره یې تخت په هوا خوښ وو

د ظریف هم ښه مزې وې ډېر و شپو کې
خپل د یار مخ یې په نور او ځلا خوښ وو

ketabton.com - The Digital Library



# ښکلي سترګي

کله بیا به زما وخوا له یو نظر کړې
زړه مې تا پسې کړیږي که باور کړې

چې په ښکلي سترګو وګوري وچاله
خوار درویش یو لیونی بل قلندر کړې

که د مینې یو پالیش ورکړې وچا ته
له یو کاڼي به را جوړه ښه مرمر کړې

وعُشاقو له ره دین او هم کعبه یې
کله ځان ورته ښکاره پر لوی ممبر کړې

عشق دي داسې یو مزه لري بې قنده
آن یو کس به د کوثر په حال خبر کړې

له دې وروسته په یارۍ دي بیا خوښیږي
چې ځنځیر او زولنو کې یې اوتر کړې

تابل چاته هم خندلي دي حسینه
که یوازي زما ظریف سره هُنر کړي

ketabton.com - The Digital Library



## د وصل ارمان

د وصــــــال پـــــه انتظـــــار يمـــــه دلبــــــره
خــــــوار او زار در پســــــي ګـــــرځم در بـــــه دره

کلـــــه بيابـــــه يـــــوه شـــــپه راســــي د وصـــــل
چـــــې مــــي ســــترګي ســــي پــــر مــــخ در برابــــره

در لـــــوګی ســــم ښايســــته ګــــل نازنينــــــه
بوراګـــــان در پســــــي ګرځـــــي لــــــر اوبــــــره

عاشـــــقان دي لېـــــوني دي پـــــه دنيــــا کـــــي
ډېــــر بـــــې حالـــــه څـــــه پــــر حالــــه څــــه اوتــــره

زړه مــــي ســــتا د محبــــت پــــه تيــــغ ســــوری ســــو
نــــه پــــوهېږم چــــې دا غشــــی کــــه خنجــــره

څنګــــه در ســـــمه بـــــې وســــه يمـــــه ګرانــــه
خـــــدای خبــــر دی چــــي نــــه ســــيم لــــرم نــــه زره

ظريـــــف ګـــــوري بـــــه دي ســـــترګو تـــــه پـــــه مينــــه
چــــې ولاړيــــې تــــه پــــر غــــاړه د کــــوثره

ketabton.com - The Digital Library


## د یار موسکا

که هر چا حسین دلبر ته وي کتلي
بې اختیاره به یې ډېر ډېر وي ژړلي

راته ګوري په کتلو کې موسکی سي
دا یې ما ته که ونورو ته خندلي

ښه د میني اور او زور یې سوځول کړي
څوک یې ډېر او څوک یې لږ لږ وي داغلي

حاجیان ودریږي څنګ ته یې لا نه مري
ورحیران یمه ترکوره وي راغلي

ما به کله الله ورولي تر ښاریې
په سوالونو او زارو مې لاس نیولي

د واعظ په کتابو کې دا باب نه سته
زما عشق درسونه ده کله ویلي

زما ظریف له سترګو دُر ګوهر را اُوري
له ښو مې ملغلري رژولي

ketabton.com - The Digital Library



## عجیبه مرتبه

ســـتا د ســـترګو پـــه لیـــدو کـــې خونـــد مـــزه ده
دا یـــــــوه دي مدینـــــــه بلــــــه کعبــــــه ده

چـــــې د رب دیـــــدار دننـــــه پکښـــــې وینـــــې
دا ســـــینې لــــــه دي عجیبــــــه مرتبـــــه ده

چـــــې حاجیــــان یــــې پـــه لبـــانو ښـــکلوینه
هـــــر پـــــایزار خــــو دي بهتــــره لــــه هغـــه ده

نـــــوراني مـــــخ دي عاشـــــق لـــــه عرفـــات دی
یــــوه وریځــــه دي صـــــفا بلــــه مـــــروه ده

کـــوم حـــاجي چـــې دي روضـــې ســـره ژړیـــږي
د ســـرو ســـترګو هـــره اوښـــکه یـــې خـــورده ده

شـــنې ګنبـــدي بـــه وي ډېـــري پـــه جهـــان کـــې
ســـتا هغـــې لـــره خـــو لویـــه دبدبـــه ده

زه ظریـــف چـــې دي کـــوڅې پســـې کړیـــږم
د یـــــو چـــــا پکښـــــې رضـــــا او اراده ده

ketabton.com - The Digital Library



## ستا سره یاریم

لـــه پخـــوا مـــي لا توبـــه ده لـــه دې کـــاره
بـــې لـــه تـــا نـــه یـــم لـــه بلـــه ســـره یـــاره

دا منمـــه بنـــه ملگـــري خـــو مـــي ډېـــر دي
ته لـــه ستاســـو نـــه قربـــان ســـه پـــه یـــو واره

لـــه مـــا خـــوار دي کـــورني خلـــک پـــر دي کـــړه
دا نـــژدې مـــي ســـکه وړونـــه مـــور او پـــلاره

چـــي د عشـــق دي یـــو ځپـــه رابانـــدي راســـي
ډېـــر خوشـــحاله ســـم خـــو دوی راځـــه بېـــزاره

کـــه واعـــظ مـــي نـــاروا ملامـــت بـــولي
لـــه ځـــوانۍ نـــه پـــه دي کـــاریـــم گنهکـــاره

وړ لایـــق نـــه یـــم چـــي درســـمه تـــر کـــور دي
خـــدای مـــي درولـــه تـــر هغـــه بنـــار او داره

مـــا ظریـــف لـــه مـــخ بنـــکاره کـــړه درب روی دی
پـــه وصـــال پســـي دي گـــرځم نـــاقراره

ketabton.com - The Digital Library


## یو ښه انواري شپې دي

د رب پـــه عبـــادت کـــي ســـجده کـــي ښـــه مـــزه ده
خپـــل یار ســـره د وصـــل هغـــه شـــپه کـــي ښـــه مـــزه ده

یـــو ښـــه انـــواري شـــپې دي کلـــه کلـــه ملاقـــات وي
آشـــنا تـــه پـــه کتلـــو نتـــداره کـــي ښـــه مـــزه ده

ســاقي ســره ملګــری ســه یــو وخــت خوبــه جــام درکــړي
د ده د میُـــو خونـــد او میکـــده کـــي ښـــه مـــزه ده

یـو دوه څـاڅکي یـې راکـړه بـس د عشـق پـه حـال خبـر سـوم
د ښـــکلي پـــه لاســـونو او پیالـــه کـــي ښـــه مـــزه ده

چـــي څـــوک وریســـي ژاړي دا ژړا خـــو رحمتـــي ده
لـــه ســـترګو را رُخصـــت هـــره ذره کـــي ښـــه مـــزه ده

هر زړه چي خپل د خدای له بیري ریږدي لکه پاڼه
پـــر هغـــه زړه مضـــبوطه زلزلـــه کـــي ښـــه مـــزه ده

کـه څـوک یـې یـو وار و وایـې دوږخ کـي بـه تـل نـه وي
ظریـــف پـــر یـــار ویلـــې کلِمـــه کـــي ښـــه مـــزه ده

ketabton.com - The Digital Library


## یوه دعاء را نصیب کړه!

یا ربه ذوالجلاله ستا رضا را نصیب کړه
په لوی فضل کرم یوه عطا رانصیب کړه

نن زما وي که د نورو راقبوله یې خالقه
ایمان او دین لپاره یو دعا رانصیب کړه

پاک ربه څه وس راکړه چې زه درسم ننواتی
پرواز مې د عریو پر فضا رانصیب کړه

شوق ذوق د زړو نه لرم دې یو سفر لپاره
له خپلو خزانو دې څه غنا رانصیب کړه

یا ربه بخت مې ویښ کړه نن په خوب بیده بیده دی
زیارت او مدینه د مصطفی رانصیب کړه

چې سترګې مې لندې وي همیشه به نم پر نمه
خوږ یار پسې خوږه خوږه ژړا رانصیب کړه

ظریف وایي دا تېر عمر مې تېر سو په دردو کې
هم دغه درد لپاره څه دوا رانصیب کړه

ketabton.com - The Digital Library


## د عشق درس

په امیانو کې امې عشق کې ملایم
درب فضل دی په دي کار کې بینا یم

ما عشقي عشقي درسونه دي لوستلي
رسېدلی تر مجنونه او لیلا یم

مجنون چا د لېونتوب په تور تړلی
زه تړلی په سلوارو به یو چایم

خپل د یار له خوږې مینې سوه راپېښه
له هغو مزو به څه حالونه وایم

خوږ پرهر له حکیمانو مُستغني کړم
بې پروا له هر مرهمه او دوا یم

د محشر په ورځ بې چیري وویمنه
نن له اوس یې په دي فکر او سودا یم

له کوثر سره به زغ وکړي ظریفه
چیري ګرځې لېونیه زه خودا یم

ketabton.com - The Digital Library



## د زولنو شرنګی

خدایه څه ښکلی ژوندون د لېونو وي
هر ساعت ورځ او هفته یې د مزو وي

دی و نورو ته حیران وي نور وده ته
ښه الوتی بې وزرو او بالو وي

کله کله یې نظر کې بدلون راسي
د ښه حُسن او ښکلا په تندارو وي

یو شېبه ژوند یې له سل کالو بهتر سي
چې په پښو کې یې شرنګی د زولنو وي

له ډېر عشقه خوب خوراک وي ځني پاته
وږی تږی له څو ورځو او یا شپو وي

قریبان خواران بې ګرځي دربه دره
د شفاء یقین بې ټینګ په تعویذو وي

یو ظریف نه حسین ډېر لېوني کړي
یا یې کور کي وي تړلي یا د غرو وي

ketabton.com - The Digital Library



## بې علمۍ کې شاعري

شـــاګرد نــــه یــــم شــــاعرۍ کــــي نــــه اُســــتاد
نــــه د بــــل یــــو کــــس غــــزل لــــه یــــم نقــــاد

بــــې علمــــۍ کــــي بــــه نــــو څــــه ولــــیکم خلکــــو
چــــي د ســــین پــــر ځــــای لــــیکم ثــــې او صــــاد

هــــیڅ مکتــــب او مدرســــه مــــي لوســــتې نــــه ده
نــــه لرمــــه پــــه لاســــونو کــــي اســــناد

یــــو ذره عشــــق مــــي پــــه زړه کــــي خــــدای کرلــــی
لــــه دې کښــــت او کرونــــدي یمــــه آبــــاد

چــــي را شــــروع مــــي کــــړه نعتونــــه خونــــد مــــزه وه
هغــــه شــــپه مــــي لا تــــر اوســــه ده پــــه یــــاد

دې هُنــــر ســــره مــــي کلکــــه علاقــــه ده
اوس مــــي ذکــــر وظیفــــه هــــم مــــي اوراد

دا ظریــــف خــــوور تشــــویق کــــړئ ادیبــــانو
څــــه بــــه ولیکــــي لپــــاره د هیــــواد

ketabton.com - The Digital Library



## د شعر عفت

جوړومه یو څه رنګ په رنګ اشعار
په اوږده لباس به ښکلي وي سینګار

کوم عالم او یا سپین ږیری به یې اوري
چیري و نه خورم په خپل بیتونو خار

عاشقان له دنیا تللي بې حسابه
بې منصوره څوک ختلی دی په دار

شعر خو ښه دی ادبي چوکاټ کې بنده
امان غواړمه له سپک او پک ګفتار

خال او خط او زلفې ډېرو دي ستایلي
اوس خو وخت دی د نوښت او ابتکار

ور هدیه به کړم څو توري و پښتو ته
دا لِسان مې د نیکونو او د پلار

ای ظریفه پښتو ژبه امیل غواړي
ورله وپېیه د څو غزلو هار

ketabton.com - The Digital Library



## شاعر قاضي دی

یـــو تبلیـــغ او رســالت دی غـــزل شـــعر
بیلــه علمــه بلاغــت دی غـــزل شـــعر

ښــه تــه ښــه او بــد تــه بــد وایــه منصــفه
نــن دي لاس کـــي امانــت دی غـــزل شـــعر

څــه چــي وایــې ملائکــي بــه یــې لیکــي
پــر ذمــه دي ضـــمانت دی غـــزل شـــعر

کــه یــو بیــت دي پــه بیتــو کــي بــې مــزې ســي
بیــادي شــعر لــه اهانــت دی غـــزل شـــعر

دا هُنــر دي ښــه آزاد ســاته ادیبــه
ســتا انصــاف او عــدالت دی غـــزل شـــعر

دا قضــاء ده حــق باطــل ســره جــلا کــړه
تــه قاضــي یــې قضــاوت دی غـــزل شـــعر

ای ظریفــه شــاعري د خــدای عطــا ده
د عُشــاقو شــرافت دی غـــزل شـــعر

ketabton.com - The Digital Library



## ځان ښه ګڼل

ځـــــان لـــــه بلــــه ښـــه ګڼـــل بُـــت پرســـــتي ده
بـــــې لـــــه ربــــه نفـــس ګنـــــده تــــه بنـــد ګي ده

پــــه طاعـــت بانـــدي څـــه فخـــر پکـــار نــــه دی
دا لــــــویي خــــو لــــه ابلـــــیس ســــره یــــاري ده

د نفلونـــــــو حســــــاب مــــــه کــــــوه زاهـــــده
تقـــــدیري فیصـــــله ســــوې لــــه وختـــــي ده

د ریـــــا تــــــوره دي خـــــوړنــــه کـــــړي مؤمنـــــه
د دي کـــــــار حلالـــــــول او قصــــــابي ده

کــــه څـــوک غـــواړي ریـــا کـــار ســــره آشناســــي
یــــوه شـــــنه رنګـــــه پــــرده یــــې پــــر تنـــدي ده

هـــــــر نبـــــي لـــــــه الـــــــهي غضـــــبه ریــــــږدي
زمــــوږ پــــه زړونـــو کـــي نـــو ولــــي بــــې غمـــي ده

خــدای دي نــه کــړي یــو انســـان ظریــف پــه رنګــه
هـــــره ورځ یـــــې خپـــــل لـــــه ربــــه سرکښـــــي ده

ketabton.com - The Digital Library



## د یوه جنت لپاره

ای زاهـــده ســـتا لـــه زُهـــده مـــي توبـــه ده
طاعـــت نـــه دی د دورواغـــو یـــو حیلـــه ده

د یـــوه جنـــت لپـــاره ســـجدې کـــړي
دا د خـــدای او کـــه لـــه ځـــان ســـره دوکـــه ده

د ریـــا پـــر نیلـــي ســـپوره ځـــان دي خـــوښ دی
دا اوس کومـــــه بزرګـــــي او مرتبـــــه ده

پـــــه نفلونـــــو بانـــــدي دوه جهانـــــه غـــــواړې
تـــــه وا لاس کـــــي دي پخپلـــــه فیصـــــله ده

کـــه یـــو کـــس دي پـــر مـــزاج برابـــر نـــه وي
پـــــر هغـــــه دي لـــــه کتابـــــه حوالـــــه ده

پـــــر روا د نـــــاروا حکـــــم و نـــــه کـــــړې
و ایمـــــان تـــــه دي عظیمـــــه زلزلـــــه ده

زه ظریـــف خـــو نـــه عابـــد نـــه ریـــا کـــاریـــم
شـــاهدان مـــي د زړه هـــــر رګ او پـــــرده ده

ketabton.com - The Digital Library



## ريا كاره زاهد

څـــوک اختـــه کـــه پـــه ريـــا وي مـــه يـــې وينـــې
کـــه دي يـــار هـــم دي آشـــنا وي مـــه يـــې وينـــې

دا طاعـــت بـــه يـــې و خـــداى تـــه څـــه قبـــول وي
پـــر هـــر ځـــاى چـــې يـــې وينـــاوي مـــه يـــې وينـــې

ښـــه عمـــل بـــه يـــې پـــه خولـــه کـــې نـــه ټينګيـــږي
دايـــې خـــداى ســـره وفـــا وي مـــه يـــې وينـــې

کـــه هـــر څـــوک وربانـــدي روږدى ســـو بدبختـــه
ديـــن ايمـــان لـــه يـــې بـــلا وي مـــه يـــې وينـــې

کـــه دا تـــاج د مغـــرورۍ يـــې وي پـــر ســـره
ښـــه عـــالم او کـــه آغـــا وي مـــه يـــې وينـــې

زمـــا خـــو زړه پـــر ريـــا کـــار بانـــدي خـــوږيږي
پـــه رســـوا کـــې بـــه رســـوا وي مـــه يـــې وينـــې

د ظريـــف دغـــه يـــو پنـــد کـــه پـــه غـــوږ واوري
دابـــه ده لـــره دوا وي مـــه يـــې وينـــې

ketabton.com - The Digital Library



## ارمانونه مي هزار

سل افسوس او ارمانونه مي هزار
د ګنا پنډونه وړمه پر سر بار

د کوم نېک عمل سودا خو مي ونه کړه
پرون راغلم سبا ځمه خپل پر لار

عبادت باندي کمزوری ګوډ اوشل يم
معصيت باندي اخته يم هر سهار

سوړ خزان مي د ژوند پاڼي رژولي
وخت مي تېر سو د پسرلي او د بهار

له دوو حالو خالي نه دی آخر کوره
قبر اور دی يا ومړي ته ګلزار

دا چي دومره حسابونه را ته ګوري
چيري سپی وای په يو کنده کي مُردار

زه ظريف به لکه مچ لاسونه مروړم
چي پر سر مي لوټي خاوري سي انبار

ketabton.com - The Digital Library



## لا ژوندی یم

خدایه داسي یو ارمان لرمه زړه کي
دا ارمان لکه ایمان لرمه زړه کي

یو وحشي لوی ځناور وای د ځنګلونو
دا یو فکر مي طوفان لرمه زړه کي

ورځ د حشر راته ګوري لا ژوندی یم
تول بدن باندي لړزان لرمه زړه کي

وحضور د ذوالجلال ته به دربږم
د رب بېره له اسمان لرمه زړه کي

د غضب او رحم غرونو لاندي ناست یم
رجاء خوف دواړه پر ځان لرمه زړه کي

تواضُع ته مي هیڅ نه پرېږدي ابلیسه
رګ او وینه کي شیطان لرمه زړه کي

زه ظریف له اوره بچ او که به نه سم
امیدونه د رحمان لرمه زړه کي

ketabton.com - The Digital Library



## راته ګوري

ربه څومره لوی کارونه راته ګوري
د مرګي وار او جامونه راته ګوري

ما په قبر کې به ښخ خلک به ولاړ ې
تورو خاورو انبارونه راته ګوري

خدای پوهیږي زما به څه حال او احوال وي
د برزخ اوږده حالونه راته ګوري

نیک عمل به مې نو څه وي ترازو کې
د ګناهو کتابونه راته ګوري

د محشر په ورځ به رب وي ډېر په قهر
د سوالو یې جوابونه راته ګوري

کاشکي زه خو د ځنګلونو یو حیوان وای
دا مې زړه کې ارمانونه راته ګوري

زه ظریف خو نه پوهیږم ذو الجلاله
ستا رحمت که عذابونه راته ګوري

ketabton.com - The Digital Library



## حکمت لري سبحان

په هر څه کې یو حکمت لري سبحان
خبردار په دا راز کله پوهان

لوی عابد به جهنم لره ورکش کړي
له کافره به راجوړ کړي مسلمان

نېک عمل خو یو ښه کار په دو که نه سي
یو نظر و کړه طاعت له د شیطان

دا و نه وایې زه سم او نور کاږه دي
پر ځان و نه کړې د ښه بنده ګُمان

د ژوندون دا خاتمه خو ده مستوره
څوک به یوسي له کفن سره ایمان

عابدان د جنتو په طمع ګوري
ګنهکار له ذوالجلاله په لړزان

زه ظریف یو څناور وای لویه خدایه
یا پیدا نه وای له سره په جهان

ketabton.com - The Digital Library



## د رب فضل

ربــــه ســــتا فضــــل کــــرم او ښــــه احســــان دی
ومــــؤمن تــــه دي بخښــــلی ښــــه ایمــــان دی

هــــدایت لــــه دي راولېــــږل نبیانــــه
لــــوی ســــرداریــــې زمــــوږ نبــــي اخیــــر زمــــان دی

مؤمنــــانوهم منلــــي دي پــــر ســــترګو
صــــحیفې او کتابونــــه کــــه فرقــــان دی

لــــه قهــــارنــــوم خــــو دي هــــر یــــو عاصــــي ریــــږدي
شُــــکرنــــوم دي پــــر غالبــــه د رحمــــان دی

تــــر ثلــــورو مُقربــــو مــــلائکــــو
ښــــه دی خــــوښ دي خلافــــت لــــره انســــان دی

د هغــــه زامــــن پــــر دوو لاروو مــــزل کــــړي
یــــو قابیــــل او بــــل هابیــــل خــــوا تــــه روان دی

وظریــــف تــــه بخښــــه وکــــړې ذوالجلالــــه
تــــه یــــې وینــــې ســــتا لــــه بیــــري پــــه لــــړزان دی

ketabton.com - The Digital Library



## د مطلب یاري

چې مطلب لپاره یاروي پکار نه دی
سکه وروراو که دي پلاروي پکار نه دی

چې یاري یې وي تر خپل یوه هدفه
که ټول عمر دي همکاروي پکار نه دی

که هر چا د بل عیبونه لټوله
د ده خپل خو به هزاروي پکار نه دی

چې له خُلق او له اخلاقو وي کمزوری
که له حُسنه حُسنداروي پکار نه دی

که څوک کوږ نفس او هوا ته په رکوع وي
که زُمره کې د ابراروي پکار نه دی

چې د فیض مُشک او عنبر ورسره نه وي
که هر څو مره ښه عطاروي پکار نه دی

ای ظریفه د اسلام بې زیب زینته
که له بل هاره سینګاروي پکار نه دی

ketabton.com - The Digital Library



## خپل هدف

پــــه مشـــكله بــــه يـــو داســـي كـــس پيـــدا ســـي
چـــــي د نـــــن او د ســــبا دي خيـــــر خـــــوا ســــــي

پخـــــــوا ثـــــــه ښـــــــه وررورولــــــي او صـــــــداقت وو
اوس ملگـــــري يــــــو او بـــــل لـــــره بــــلا ســــــي

وفــــادار وي خپـــــل لــــه يـــــاره ســــــر خــــــوړلی
بـــې وفـــا يـــې پــــه رســـوا وو كـــي رســـوا ســــي

خپـــــل د ګټـــــي پـــــه هـــــدف بـــــه ســـــره خانـــــدي
تــــــر هغــــــو چـــــي حاجتونــــــه يــــــې روا ســــــي

لـــــه دې خلكـــــو بـــــه ثـــــوک طمـــــع د وفـــــا كـــــړي
لكــــه لمـــــر در مخــــامخ او بيــــا يــــې شـــا ســـي

كــــه پــــه ســـــل درده اختــــه او مــــريض پـــــروت يـــې
كـــــوم يــــــو كــــس بـــــه دي مـــــرض لـــــره دوا ســــي

دا ظريــــف خـــو دي پــــه غبرګـــو ســـترګو ړونـــد ســـي
چـــــي مطلـــــب لپـــــاره چــــــا ســـــره آشناســــــي

ketabton.com - The Digital Library


# چا پېژندلی؟

د نن ښه یار او اغیار چا پېژندلی
خپل لستوني کې هم مار چا پېژندلی

ډېر ځوانان خو هم وژلي دي یارانو
بې وفا او وفادار چا پېژندلی

د کاسب و کاسبۍ ته نظر و کړه
بې ایمان او ایماندار چا پېژندلی

په خندا او بیدارۍ به دي دوکه کړي
مستري او دوکاندار چا پېژندلی

و شعبې ته ورسه دواړه غوږ پر ګرځي
لوی مأمور او چوکیدار چا پېژندلی

د هر چا خپل دینداري تر بل وي خوښه
ښه عابد او ریاکار چا پېژندلی

ای ظریفه خلک وپوښته په حقه
ګُل دسته کې ګُل او خار چا پېژندلی

ketabton.com - The Digital Library



## نظر وکړه!

د اعمالو سود او زیان ته نظر وکړه
خپلي ګټي او تاوان ته نظر وکړه

په دي دواړو کي تر کوم یو لاندي خوښ یي
نوم د قهر او رحمان ته نظر وکړه

نن له ښو او که له بدو سره ګرځي
یوڅه دین او وایمان ته نظر وکړه

رود نیل پر سر اخیستی یي غرقیږي
و فرعون او هامان ته نظر وکړه

ته سبا یا بله ورځ به خامخا مري
تور لحد او و زندان ته نظر وکړه

که تر نورو ځان څه لوړ ګڼي هغه یي
آدم پلار او وشیطان ته نظر وکړه

لا تر څو به کوږ روان ګرځي ظریفه
ورځ د حشر او میزان ته نظر وکړه

ketabton.com - The Digital Library



## د هر چا نظر کي سپک

د هر چا نظر کي سپک به وي او خوار
کبرجن ګوره روان چي وي پر لار

دی چي ناست پر وسائل وي بیا یې ګوره
سر بې کوږ نیولی وي لکه یو مار

له تاوان ګټې یې تېر سه ای مؤمنه
خدای دي مه کړه له دي کس سره همکار

د لوی کبر خاتمه خو لکه او روي
په آخیره کي ایره سي سو رانګار

تکبُر که رب ته خوښ وای له ازله
دا ابلیس خو به ولي وای د غفار

له مغرور سره دي څوک همسایه نه سي
ورنژدي یې ډېر قریب وي که یې پلار

ای ظریفه ښه ګوښه ګرځه له کبره
چیري نه سې په لعنتو ګرفتار

ketabton.com - The Digital Library



## نه خوښوي

ښایســـــته رب کبـــــرجن نــــه خوښـــــوي
ریا کــــارا و د رواغجـــــن نــــه خوښـــوي

عـــــالي ذات دی تکبُــــرورســــره ښـــایي
د بنــــده لویـــــه لمــــن نــــه خوښـــوي

انبیــــاء او عُلمــــاء یـــــې محبـــوبین دي
د دوی هـــریـــــوه دُښـــمن نــــه خوښـــوي

چـــې صـــحت راحـــت یـــې هېـــروي هغـــه کســـه
لـــه مرضـــه ګیلـــه مـــن نــــه خوښـــوي

پـــه حـــرام خـــوراک کـــه څـــومره وده وکـــړي
هغــــه وینــــه او بـــدن نــــه خوښـــوي

چـــې یـــې جـــوړ کـــړي مســـجدو کـــي و بانـــډار لـــه
منظــــرې هغــــه چمــــن نــــه خوښـــوي

ځــــان خوښـــي ابلـــیس خوښـــي ده ای ظریفـــه
خپـــل پـــر ښـــو بـــدو مـــین نــــه خوښـــوي

ketabton.com - The Digital Library



## بې ادبه زوی

دا جهان خو له زندانه څه کم نه دی
تریخ ژوندون خو له نیرانه څه کم نه دی

د ادب ډېره ضعیفه توره شپه ده
زوی و پلاره ته له آقا نه څه کم نه دی

د نا پوه عقل په سر کې نه ځایږي
خپل په خیال خو له لقمانه څه کم نه دی

نن د مینې نمبر وړی دی سور لوتۍ
و بخیل ته له ایمانه څه کم نه دی

کوم انسان چې بل ګناهو ته رابولي
دا بنده خو له شیطانه څه کم نه دی

د حسد شپه را خوره ده یو تور تم دی
زړه کې بغض له وبانه څه کم نه دی

ای ظریفه هر بد یار خو مُصیبت وي
کوږ آشنا خو له بلا نه څه کم نه دی

ketabton.com - The Digital Library



## د دنیا میکر

دا دنیا خو میکرجنه ده مکاره
را جلا کړي خوارۀ وړونه زوی او پلاره

خالي جام دی چي هیڅ څوک نه په اوبیږي
خواران تېږي له عُمرو لري خُماره

خود به زړه ځان له راکاږي په منګولو
چي په غاړه یې د سرو او سپینو هاره

په صورت خو حُسن داره ده حسینه
دا په خوله کي لمبه اور لري انګاره

د دي مثل یا مثال د انګرېزی دی
له هر چا سره یاری ته وي همکاره

څه مخلوق یې تباه کړی په هُنره
محبت یې د ګناهو مور او پلاره

نن ظریف او ډېر یې مینه کي راګیر دي
کوم یو کس یې له دوستیه دی اِنکاره

ketabton.com - The Digital Library



## یوازي خپل عزت

په دنیا زر او لذت مو زړه بایللی
په مالونو او دولت مو زړه بایللی

هر یو غواړو د بل سر دي راته ټیټ وي
په لوی قدر او قوت مو زړه بایللی

په ټول ښار کي یو راوښیه امینه
په حرام او رشوت مو زړه بایللی

دا مو خوښه زه دي دروند خو بل دي سپک وي
په وقار او عزت مو زړه بایللی

دوه چي کښېنو د ورور غوښه مو خوراک وي
په عیبونو او غیبت مو زړه بایللی

نیک عمل باندي ماړه یو آن تر پزي
په ګناه او معصیت مو زړه بایللی

ای ظریفه مینه ورکه مو له زړو سوه
په جنګونو او نفرت مو زړه بایللی

ketabton.com - The Digital Library



## دا رواج

زمونږ شاهانو به وو ایښې په سر تاج
غزنوي صاحب میرویس وو دا رواج

په تاریخ د ابدالي کې دي لیکلي
سلامي یې وو راجه او مهاراج

یو تېره توره بې کښلې وه له تیکې
د دُښمن بې په ګونډو کړله افواج

رب دې بیا یو امپراتور راکې پیدا کړي
چې لښکرې یې هر خوا ځغلي په امواج

دا خوږ ملک خو مو یارانو کړولی
شرقو غربو په جنګو ده په تاراج

میلمانه هر وخت راغلي په توبو وي
دوی په ګوتو وي نیولی د غوږ خاج

ای ظریفه داسې وخت به کله راسي
چې را واخلو له کفارو څخه باج

ketabton.com - The Digital Library



## ګټلی نه دی

لــــه افغانـــه یـــوه جنـــګ ګټلـــی نـــه دی
د تیـــرې تـــوري یـــې شـــرنګ ګټلـــی نـــه دی

هـــر پـــردی ســـر پکښـــې مـــات او کوتـــل ســـوی
شـــرق او غربـــو دا اونـــګ ګټلـــی نـــه دی

د غیـــرت نـــوم یـــې وتلـــی پـــر جهانـــه
ننګیـــالي هـــم لـــه ده ننـــګ ګټلـــی نـــه دی

چـــې نشـــه یـــې تـــر قیامتـــه نـــه ختمیـــږي
میخورانـــو دغـــه بنـــګ ګټلـــی نـــه دی

تـــاریخو کـــې پـــه زرینـــو کرښـــو لیـــک دي
لـــه ملالـــي یـــې لونـــګ ګټلـــی نـــه دی

دا پـــرون چـــې یـــې شـــاګرد وو تـــور کـــې تـــوره
دا بدرنګـــه لـــه ده رنـــګ ګټلـــی نـــه دی

ای ظریفـــه د رقیـــب پـــلار او نیکونـــو
لـــه اکبـــره یـــې وُلنـــګ ګټلـــی نـــه دی

ketabton.com - The Digital Library



## چې بیا را نه سې!

نـــا بللیـــه میلمـــه ځـــه چـــې بیـــا رانـــه ســـې
پـــه تلـــوار ورځـــه ورځـــه چـــې بیـــا رانـــه ســـې

پـــه دې کـــور کـــې ښـــاماران پراتـــه دي
هـــر یـــو تېـــر دی تـــرږده چـــې بیـــا رانـــه ســـې

ســـتا لـــه پـــلار او لـــه نیکـــه مـــو جنـــګ کتلـــی
زمـــوږ لـــه خلکـــو ځـــان ســـاته چـــې بیـــا رانـــه ســـې

اوس خـــــو پـــــوه ســـــوې دغـــــه لاره د خطـــــر ده
د تـــــور خـــــم پـــــر دروازه چـــــې بیـــــا رانـــــه ســـــې

یـــــا خـــــو نـــــن او یـــــا ســـــبا بـــــه روانېـــــږې
پـــه هـــوا ځـــې کـــه پیـــاده چـــې بیـــا رانـــه ســـې

خـــوارږه وږونـــه دي پـــه غـــم ســـره اختـــه کـــړه
ســـتا لـــه خیـــره مـــو توبـــه چـــې بیـــا رانـــه ســـې

ظریـــف ولیـــدې مغـــروره ســـر دي مـــات ســـو
د تکبیـــر پـــه انګـــازه چـــې بیـــا رانـــه ســـې

ketabton.com - The Digital Library



## سربه وخوري

کـه څـوک راسـي و دې ملـک تـه سـر بـه وخـوري
دوا ړه لاسـه پښـې او تـوره سـپر بـه وخـوري

نـوم نښـان بـې د وارسـا غونـدي ختميـږي
تـر لاس لانـدي خـاوره بحـر و بـر بـه وخـوري

سـرحدات بـې پـرزاړه حـال پا تـه نـه سـي
ځلـور ګـېټـه دروازه او در بـه وخـوري

د روسـانو اقتصـاد دي هـم پيـاد کـړي
خپـل د کـوريـا کلـي دُر او زر بـه وخـوري

د مـرهم پټـې اسـباب دي اول جـوړ کـړي
پـر ځيګـريـو پـولا دي خنجـر بـه وخـوري

د دنيـا پـه لـوی تـاوان کلـه خلاصـيږي
پـه زرهـاوو جنګيـالي عسـکر بـه وخـوري

زمـا ظريـف د شـعرو خولـه پسـي راخلاصـه
د کفـارو د غـرور اثـر بـه وخـوري

ketabton.com - The Digital Library



## بیا بەرا نەسي

بیا بەرا نەسي هغەوخت او زمان
چي حاکم سو پر ډهلي او پر مُلتان

دبدبه مو ور خوره وه پر ملکونو
سالاران وو د سرحد او اصفهان

هم واکمن د بُخارا را سلامي وه
دا خرقه خو ځکه راوړه احمد خان

په تاریخ کي نوم ور ثبت کړه ای زلمیه
لکه ثبت دی د میرویس او اکبر خان

نن پردي مو سره وژني په هُنره
ملامت دا زه او ته یو که یاران

زمو ږ کانونه او او به تو ته وږي تږي
ته وا دوی پرما او تا دي مینان

زما ظریف خو یو ارمان دی له وختونو
چي مي کلي کي وي امن او امان

ketabton.com - The Digital Library



## ولس په غم لړلی

شاعره حُسن رنګ خیالي رنګي راته مه ستایه
سرې شونډې تورې زلفي اننګي راته مه ستا یه

ولس په غم لړلی دي نن وینو کي رنګین دی
هر لوري چینار ګودر او څه منګي راته مه ستایه

ضمیر دي مرور رنګ او روغن سره پخلا دی
غزلوکي هارونه لونګي راته مه ستایه

حالات مو ستړي ستړي ژوندمو تریخ د کور او کلي
وعدي د سیم او زر د پرنګي راته مه ستایه

اویا کلن مُرید یې څه بې دینه مذبذبه
فاسده پیر لنګر او ملنګي راته مه ستایه

ملک یې چامنلی چي ناظر ته یې ورتیټ سو
تور غاښی چلم کښ دغه بنګي راته مه ستایه

ظریفه تور ته تور او سپین ته سپین نه وایې یاره
دا ګونګه شاعري دي د ګونګي راته مه ستایه

ketabton.com - The Digital Library


## د پښتون مرګ

نـــــن پښـــــتون د پښـــــتانه دلاســـــه مـــــري
د میلمــــــه او کـــــور بانـــــه دلاســـــه مـــــري

اوس د وصـــــل او فـــــراق څنـــــګ کـــــي ولاړ دی
د وصـــــال او بیلتانـــــه دلاســـــه مـــــري

زمـــــوږ ولـــــس ګـــــذار خـــــوړلی د خنجـــــره
د هـــــر ســـــپک او د درانـــــه دلاســـــه مـــــري

لـــــه چـــــا وژاړي وچالـــــه وژاړي خـــــوار
یـــــا د ده یـــــا د هغـــــه د لاســـــه مـــــري

دا ملـــــت دی پـــــه جنګـــــي زهـــــرو مســـــمومه
د یـــــو تـــــریخ او د خـــــواږه دلاســـــه مـــــري

هـــــر چوپـــــان چـــــي وي غافلـــــه خپـــــل لـــــه مالـــــه
دا رمـــــه بـــــه د شـــــپانه دلاســـــه مـــــري

زه ظریـــــف یـــــې پـــــه غمـــــو بانـــــدي مغمـــــوم یـــــم
راســـــته ســـــم او د کـــــاږه دلاســـــه مـــــري

ketabton.com - The Digital Library



## ګلدسته په کاڼو ولي

ښه کلام او کلمه په کاڼو ولي
زموږ یقین او عقیده په کاڼو ولي

راته وایه دی هغه نه دی نوښه دی
ابراهیم او هاجره په کاڼو ولي

دا خو پرېږده چي ایمان پر راوړي یاره
پاک رسول او ښه روضه په کاڼو ولي

د شیطان پر ځای د خدای په دُښمنۍ کي
د مکې دراو پرده په کاڼو ولي

رنګ یې وګوره دی سور نه دی نوښه دی
د عالم سراو سینه په کاڼو ولي

شو پرک دی له رڼا سره جوړ نه دی
لمرخاته وخت او غرمه په کاڼو ولي

زه ظریف خو یې ښه وینمه اغزی دی
سره ګُلان او ګُل دسته په کاڼو ولي

ketabton.com - The Digital Library



## واه هلمنده!

هلمنده قدرمنده ټول جهان یې پېژندلی
شرقي غربي ښاغلو او المان یې پېژندلی

هر وخت له طوفانو سره جنګېږي نه غرقیږي
د نوح نبي کښتۍ یې هر طوفان یې پېژندلی

ولویو کارنامو ته دي نړۍ ګوته په خوله ده
غیرت او شهامت کې هر انسان یې پېژندلی

غریبو کې غریبه خو دستار دي د خانۍ دی
د نورو هیوادونو هر یو خان یې پېژندلی

حقدار یې چې د خپل وطن د خلکو مقتدا سې
امام سه امامت کوه آذان یې پېژندلی

ښکلا دي د ګلونو په یوه ګلبڼ کې نه سته
ګلابه په ګلونو کې ګلدان یې پېژندلی

ظریفه عقیده کې له پردو سره جوړ نه یې
ډېر شُکر دی قوي ایمان یې پېژندلی

ketabton.com - The Digital Library



## د فریاد ږغ

افغان په ویر او غم مسلمان بیده دی
غافله بشر دوست او جهان بیده دی

څوک مړه په بمباریو څوک تباه سوه پټاوو کي
کفن او تور لحد قبرستان بیده دی

د ظلم انتهاده زموږ د خوار ولس پر سره
د عدل ترازو او میزان بیده دی

دا دوه یاران ښاغلي مو ښه وژني په هُنره
کوګل کي مو ضمیر او ایمان بیده دی

دوی کله به راویښ سي چي لږ وګوري له قبره
اکبر او شېر علي ایوب خان بیده دی

یو ورځ خو مو د سولي په لمن کي تېره نه کړه
زموږ کلي او کوڅو کي امان بیده دی

ظریف وایي رمه یو شرمښانو و خوړلو
همکاره د رمي او چوپان بیده دی

ketabton.com - The Digital Library



## هلاکت دی

جنګونه او جګړې دي هلاکت پکښي پټ پټ دی
یو ټُوره شپه تیاره ده ملامت پکښي پټ پټ دی

نن سرې ویني بهیږي کور او کلي په رنګیږي
پوښتنه له چا نسته عدالت پکښي پټ پټ دی

د هر یوه پردي سره یاري مو د مشرانو
زموږ خوار ولس خواري او شقاوت پکښي پټ پټ دی

ناحقه وژل کیږو دا جهان مو تماشه کړي
له زړو یې رحم تښتي قساوت پکښې پټ پټ دی

هیواد کي مو اور بل دی دغه چاري د یارانو
ظاهره یې دوستي خو عداوت پکښي پټ پټ دی

سیالان مو ولاړه ولاړه له اتم سره پخلاسوه
هغو لپاره امن حفاظت پکښي پټ پټ دی

ظریفه ژبه سمه ښوروه خپلو شعرو کي
ادب او شاعري ده امانت پکښي پټ پټ دی

ketabton.com - The Digital Library


## توره شپه ده

جنګي توره تياره ده په رڼا پسې راغلې
له اصله نيمه شپه ده سپين سبا پسې راغلې

تش نوم د يوه اخلي تر ګذار لاندې يې بل وي
اصلي خبره داده په مُلا پسې راغلې

کله واري يې پر جوړ سو يو عجيبه کار به وسي
ميکروب او جراثيمو د لا لا پسې راغلې

د خپل ګټې لپاره سره اوروڼه يې بل کړي
معدن د تېلو ګازو او اسيا پسې راغلې

دوه وروڼه سره وژني او دعوه د مجنونۍ کړي
د دواړو مجنونانو په ليلا پسې راغلې

ويا ړونه يې راپاته تاريخو کې راسره دي
ميوند کې د ښاغلو په انا پسې راغلې

ظريف وايي د فخر تاريخي اثارمو غواړي
په توري د نيکه او د بابا پسې راغلې

ketabton.com - The Digital Library



## آخیره زمانه سوه

آخیره زمانه سوه یو رڼا راوله ربه
مهدي آخر زمانه نن سبا راوله ربه

د جال او که یې زوی دی د خدايي دعوه یې کړي
ژوندی په آسمانو کي دا عیسیٰ راوله ربه

پخوا به یو فرعون او نمرود وه اوس خو ډېر سوه
د هر یوه لپاره یو موسیٰ راوله ربه

چي ټوله په ګونډو کړي دا کفري لښکري
داوُد او سلیمان دي په هوا راوله ربه

ثابت خوشحاله پاته سوه بې خیره ګاونډیان مو
د دوی پر سر له پاسه مو بابا راوله ربه

یو دعا او نه ښېرا د چا قبوله سوه خالقه
معصومي فرشتې دي په دعا راوله ربه

بې حده ژړېدلي کړېدلي له ستمه
ظریف او وطنوال یې په خندا راوله ربه

ketabton.com - The Digital Library


# څه غواړي؟

پــر مــوږ يــو انــدازه خلــک بــلا غــواړي لــه خدايــه
دا کــور کلــی کوڅــه مــو را تبــاه غــواړي لــه خدايــه

خنجــر يــې راخــه واخيســتی پــه نــوم د ډي ډي آره
هــر يــو مــو لاس تړلــی شــا پــه شــا غــواړي لــه خدايــه

يــارانو ســره مــره کــړو او پخپلــه مــو هــم وژنــي
پــه دواړو نــن وژلــي مــا او تــا غــواړي لــه خدايــه

د خپــل ګټــې لپــاره پــر هــر چــا مــو خرڅــوي دی
لا لا مــو هــره ورځ يــوه ســودا غــواړي لــه خدايــه

د ورور پــر ســر يــې غــواړي لــه پخــوا نــه وږی وږی
پــه ســرو وينــو پخــه رنګــه حلــوا غــواړي لــه خدايــه

راځــئ چــي سره يــو ســو دا خپــل کــور پخپلــه جــوړ کــړو
دُښــمن مــو ډلــې ډلــې ســل اويــا غــواړي لــه خدايــه

هــر يــار چــي مــو د دينــه د دنيــا او خــاوري غــل وي
ظريــف يــې شــرميدلی او رســوا غــواړي لــه خدايــه

ketabton.com - The Digital Library


# تاریخ مو هېر کړ

یـــــار آشـــــنا د خپلـــو خلکـــو کـــه د بـــل یـــو
خپـــل هیـــواد لـــره ناســـور او کـــه درمـــل یـــو

د نیکـــه او د بابـــا تـــاریخ مـــو هېـــر کـــړ
ځکـــه نـــن د ســـرو او تـــورو د یرغـــل یـــو

و پـــردي تـــه لـــوړ نظـــر کـــو لای نـــه ســـو
خـــوار ولـــس پـــر ســـر غـــوري وهـــو ا تـــل یـــو

دا یـــاران مـــو ســـره وژنـــي یـــو پـــه بلـــه
ورور د ورور لپـــاره زهـــر او اجـــل یـــو

اوس خـــالق یـــو راګیـــر کـــړي لـــه هـــر خـــوا څـــه
محکومانـــه پـــه حُکمونـــو د ازل یـــو

اخیـــر قبـــر تـــه روان یـــو څـــه بـــه یـــو ســـو
وړونکـــي دوه ګـــزه ســـپین ســـان نـــه دمـــل مـــل یـــو

ای ظریفـــه ذو الجـــلال تـــه بـــه دربـــږو
مســـؤولان بـــه پـــه هـــر یـــو یـــوه عمـــل یـــو

ketabton.com - The Digital Library


## بېشکه تاواني دی

خــــوار هغــــه چــــي زعامــــت يــــې وي پــــر غــــاړه
د کــــور کلــــي کفالــــت يــــې وي پــــر غــــاړه

کــــه عــــالم نــــه وي بېشــــکه تــــاواني دی
کــــوم مــــلا چــــي امامــــت يــــې وي پــــر غــــاړه

هــــر قاضــــي بــــه و قضــــاء تــــه ودريــــږي
دا نــــن ورځ چــــي قضــــاوت يــــې وي پــــر غــــاړه

د ذرې حســــاب بــــه خــــدای ورســــره وکــــړي
هــــم والــــي چــــي ولايــــت يــــې وي پــــر غــــاړه

د مــــاليې وزيــــر بــــه ســــوال او جــــواب ورکــــړي
کــــه بانکونــــه امانــــت يــــې وي پــــر غــــاړه

د ولــــس حســــاب بــــه ځنګــــه رب تــــه ورکــــړي
وای پــــر چــــا چي رياســــت يــــې وي پــــر غــــاړه

زه ظريــــف د هغــــه چــــا کــــرم تــــه ګــــورم
چــــي خپــــل رحــــم عــــدالت يــــې وي پــــر غــــاړه

ketabton.com - The Digital Library


# نعت شریف

بخـــت مـــي ځليـــږي لکـــه ســـتوری د اســـمان دی
ښنـــګ کـــي مـــي مېلمـــه زمـــا جانـــان دی

پـــــــه انوارونـــــــو منـــــــور دی
نـــوراني مـــخ کـــي يـــې اثـــر دی
پـــه صـــفتونو يـــې فرقـــان راتـــه ګويـــان دی

يوســـــف بېشــــکه چـــــي حســـــين دی
حُســـــن د ده تـــــر بهتـــــرين دی
حضـــرت موســـی يـــې د ليـــدلو پـــه ارمـــان دی

کـــــه وهـــــر چالـــــه پـــــه خنداســـــي
هغـــه انســـان بـــه پـــه ژړاســـــي
د هـــــر عاشـــق لپـــاره ديـــن او هـــم ايمـــان دی

يـــــو پـــــاک رســــول ځلـــــور يـــــاران دي
دوه هـــــم ښـــــاغلي امامـــــان دي
دا دواړي ســـتر ګي روح او زړه مـــي تـــر قربـــان دی

يـــــارمي حضـــور تـــه يـــم منلـــــی
ښـــه بـــې شـــماره مـــي ليـــدلی
پـــر مـــا ظريـــف بانـــدي يـــو فضـــل د رحمـــان دی

ketabton.com - The Digital Library



## نعت شریف

گرانه منوره ښه راغلې ته
مه ځه تنه شپه پر کومه ځې ته

مینه دي زړه کي نازومه
غم دي پر سترګو ښکلومه
له کومي خوا راغلې آشنا په نیمي شپې ته

تا ژړ لاسونه پورته کړي
خاص دي وپاک رب ته نیولي
تر خولې دي جارسم په دعامي یادوې ته

یاران یوې او بلې خواته
زه هم ولاړ یم ستاسو خواته
د دین وکار ته امتیان دي رابلې ته

چیري ځې اوس لا نا قراریم
تر بل وصال به انتظاریم
د رب په لوی فضل کرم به بیا راځې ته

ظریفه درون د میلمه راغلی
په کائناتو کي ښاغلی
په میلمستیا به د زړه غوښي ورکوې ته

ketabton.com - The Digital Library



## نعت شريف

څه وکم خدایه په زړګي کې مې لمبې دي
دا د مدینې منورې دي

حاجي د خدای لپاره راسه
د شنې روضې له خوند ګویا سه
څنګه یې حال څه یې احوال څه یې مزې دي

تابه کتلي وي هر خوا ته
د هغه ښار ښکلي فضا ته
اوس یې را وشماره چې څو یې منارې دي

رب ما ورله آشنا ته
دغه یو سوال کومه تا ته
د مرګ او ژوند وچا ته څه معلومي شپې دي

د مدینې سپی بختور دی
چې هره ورځ باندي اختر دی
عاشقان لیري له غمو یې سترګي سرې دي

تقدیر تړلی یو بندي یم
وذوالجلال ته په زاري یم
زما ظریف زړه کې ارمانونه د هغې دي

ketabton.com - The Digital Library


# نعت شریف

بدن مې دلته د عجمو په محله کې دی
زړه مې مدینه منوره کې دی

حاجیان چې کله ور روان سي
زما هم له اوښکو یو باران سي
د مینې اور صورت مې ټوله په لمبه کې دی

دا نن که هریو ورله ګوري
د ښایسته ګنبد پر لوري
د رب پر رحم دی هریو یې په مزه کې دی

حاجي ته سل واره ترجار سه
و ژړا ګانو له تیار سه
دغه مرکز د انوارونو خزانه کې دی

له خواږه عشقه یې کباب یم
په امیدونو د ثواب یم
دا لوی کړاو مې ذوالجلال په اراده کې دی

ورک زما ظریف څخه ښه ګله
ته حسین ګل زه دي بلبله
د خوږې مینې شور مې جوړ د زړه پرده کې دی

ketabton.com - The Digital Library



## نعت شريف

دلبر مي ليري د سعودي عربستان دی
خدايه څه غمونه څه هجران دی

حاجيان به بيا اور روانيږي
پر ما به څه ورځې تېريږي
له دېره هجره يې جهان راته زندان دی

حاجي تر سترګو دي جاربږم
وايه چي کله روانېږم
زما سلامونه پروايه دا مي ارمان دی

اوس جلا ګرځمه کباب يم
چي نه يې وينم په عذاب يم
زه پسې ړوند دی د ړندو سترګو درمان دی

د هر عاشق يو معشوقه وي
د زړه پرده کي ورسره وي
هغه لپاره اصل دين هم يې ايمان دی

وما ظريف له قدرمند دی
له ټول عالم را عزت مند دی
له دي دنيا او ما فيها رابانډي ګران دی

ketabton.com - The Digital Library



## نعت شریف

ټول و انبیاوو کې افسر دی
پاک رسول الله مې د زړه سر دی

رب د رحمت درود پر وایي
هر مسلمان له یې فرمایي
درود پر وایه چې شفیع مو په محشر دی

خلک و غمو یې لېونی کړم
له دې جهانه یې پردی کړم
زړه کې مې اور د لېونۍ مینې اثر دی

ګلان مې څومره ډېر خوښېږي
د ده و مخ لره کېږي
بورا پر ځکه سوری کړی خپل ځیګر دی

د دلبر غم کړمه بې حاله
زه په دې حال یمه خوشحاله
له غم یې جار سم دا غم نه دی لوی اختر دی

یار مې یقین سره پوهېږي
چې کوم یو ډېر پسې کړېږي
نن یې ظریف له په موسکاوو کې نظر دی

ketabton.com - The Digital Library



## نعت شریف

حاجیانو حج کې د خدای فضل دی درباندي
مه وځئ روضې څخه د باندي

ګنبد لیدو کې ښه مزه ده
دا خو بې بنګو یو نشه ده
ځان پر قربان کړئ هم پر دود سئ لکه سپاندي

دا د یو چا پر سر ولاړه
ځکه په نورو کې سرداره
تر عرش بهتره هغه کس چې دی تر لاندي

د هر مؤمن په زړه کې یې کور دی
کوریې لاڅه چي د عشق اور دی
پسې ړانده د ده د مینې عاشقان دي

دا رنګ په رنګ یې مناره ده
د هر عاشق د زړه پرده ده
د مدینې د ښار اغزي ټوله ګلان دي

خدایه دیداریې ورنصیب کړې
ظریف واصل تر خپل حبیب کړې
زړه یې کوګل کې کله ژاړي کله خاندي

ketabton.com - The Digital Library


## ناخبره زاهد

خبر له عشقه نه یې خواره ولایت غواړې
ای ګرانه زاهده کرامت غواړې

په څو نفلونو خوشحالېږې
خپلو کالو کې نه ځاییږې
په دې نفلو سره دنیا او اخرت غواړې

فضل کرم دې د رب هېر
چې د حساب له حده تېر دی
په عملونو د ولیانو امامت غواړې

عزت ذلت خو تقدیري دی
دا په اختیار د کوم سړي دی
د ځان لپاره ته یو قدر او عزت غواړې

تسبیح اذکار خو یو ښه کار دی
هر یو په اووه سوه یې شمار دی
دا ثوابونه د ریاوو په قیمت غواړې

ظریفه نفس دې فرعوني دی
له خپله رب یاغي باغي دی
د قهر وړیې له رحمانه څه رحمت غواړې

ketabton.com - The Digital Library



## مرثیه

پـــه خـــوب بیـــده بیـــده او قبـــریـــې ګلـــزار دی
دا خــــو مــــــې د ښــــکلي یـــــار مــــزار دی

د دیــــن پــــه کـــــار کـــــې ګړنـــــدی وو
و هـــــر دُښـــــمن لـــــره زمـــــری وو
پـــه خپلـــو وینـــو کـــې رنګـــین لکـــه انـــار دی

د پـــــر دُښـــــمنان یـــــې تښـــــتولي
د دوی عســـــکریـــــــې ورو ژلـــــــي
د ده قربـــــان ســـــم د علـــــي یـــــو ذُو الفقـــــار دی

ژونـــــد کـــــې ژونـــــدی دی بختـــــوره
هـــــم آخـــــرت کـــــې ګټـــــوره
دی پـــه جنـــت کـــې د اویـــاوو حـــورو هـــار دی

دوه جنتونـــــه بـــــه رب ورکـــــړي
هـــم بـــې دیـــدار لـــه برابـــر کـــړي
پـــه د غـــه دواړو کـــې راحـــت هـــم یـــې دیـــدار دی

پســـــرلی راغلـــــی ګـــــلان خانـــــدي
اغـــــزي خفـــــه روان روان دي
د خـــدای پـــه فضـــل پـــر ظریـــف نـــوی بهـــار دی

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*